# ستوري

د خان مین ته دي شعور د قام د ننګ ورکړه
چې اوده نه شي د مړوند بنګړو ته شرنګ ورکړه
بې پښتو نه شي په پښتو باندې پښتو به کوي
د مینې ستوري ته د خپلې پښتو رنګ ورکړه

«ارواښاد ستوری»

**د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنې خپلواکه،**
**ناپېيلې، کولتوري او ادبي خپرونه**

پینځم کال، نهمه ګڼه، نومبر-دسمبر ۲۰۱۱/لړم-لیندۍ ۱۳۹۰

- د قرآن کریم په هکله ...
- د ملي مشرۍ تشه
- د پښتو او پښتونولۍ ...
- سالمه روغتیا
- نیمګړی ارمان
- د خاص کونړ تاریخي ...
- سیلاب ساپی ...
- راځئ چې بیا وخاندو



# ستوري Stori

خپلواکه، کولتوري او ادبي خپرونه

پنځم کال، نهمه ګڼه، لړم – لیندۍ ۱۳۹۰ل / نومبر – دسمبر ۲۰۱۱م کال


**د امتیاز خاوند**

د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنه

**مسؤل مدیر**

عرفان الله کوټوال / ۰۷۷۲۹۳۱۴۲۵

**مرستیال**

هدایت الله حیات / ۰۷۷۴۳۲۲۴۸۴

**کتنپلاوی**

څېړندوی وجیه الله شپون

څېړندوی عبدالقیوم زاهد مشوانی

څېړندوی عبدالظاهر شکیب

عبدالبصیر ستوری

**کلنۍ ګډونبیه**

افغانستان کې: ۲۰۰- افغانۍ

پاکستان کې: ۲۵۰- کلدارې

په نورو هېوادونو کې: ۵۰- امریکايي ډالره

**د یوې ګڼې بیه:**

افغانستان کې: ۲۵- افغانۍ

پاکستان کې: ۳۰- کلدارې

ستوری ستاسو خپرونه ده، ستاسې لیکنې، نیوکې او وړاندیزونه په ورین تندي مني.


## فهرست


| سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| سرلیکنه | اداره .................... | ۱ |
| د قرآن کریم په هکله ... | حافظ فضل حنان | ۲ |
| د ملي مشرۍ تشه | عبدالغفور لیوال | ۵ |
| د محمدي دین په رڼا کې | مولوی حضرت نبی | ۷ |
| د پښتو او پښتونولۍ ... | محمد رحیم یوسفی | ۱۱ |
| سیلاب ساپی ... | انجنیر عبدالقادر مسعود | ۲۴ |
| لپه .... | عارف همدرد | ۲۹ |
| نیمګړی ارمان ... | محمد داؤد صدیقی | ۳۰ |
| د خاص کونړ د لیسې ... | سمیع الله خاکسار | ۳۳ |
| قانون | شریف الله شریفي | ۳۵ |
| د خاص کونړ تاریخي ... | ... | ۳۷ |
| د ستورو کاروان | شعرونه | ۳۹ |
| شیطان د پرښتې ... | ص، ف حیات | ۴۳ |
| له ځوان شاعر سمیع الله ... | شفیق الله مفاد | ۴۵ |
| راځئ چې بیا وخاندو ... | لایق زاده لایق | ۴۷ |
| د محلي سندر غاړي ... | سید نور سالارزی | ۴۹ |
| سالمه روغتیا ... | څېړنې او پلټنې | ۵۰ |
| قصر شاهان ادبی محفل | جمشید ندیم | ۵۳ |
| د ځوان شاعر جان آغا.... | س، سیرت | ۵۹ |


د ستوري مجلې اداره له خپلو ټولو لوستونکیو څخه هیله کوي، چې د مجلې په هکله خپل وړاندیزونه او لیکنې د ادارې په پته راواستوي، ترڅو مونږ د لوستونکیو په وړاندیزونو د مجلې لیکنې کره او بشپړې کړو. مننه

# غزل

**عمرزاد منتظر - بنو**

په سپین کفن کې سپین سپیځلي پروت دی
شهید آرمان مې څومره ښکلي پروت دی
د ډېره کبره چې چاودۀ شو هغه
څلور وزره غرځیدلي پروت دی
ستا د خپلوۍ ستا د لوظونو تحریر
ما سره اوس هم شته لیکلي پروت دی
د څو یارانو په کې لاس دی ځکه
گریوان مې تار په تار شلیدلي پروت دی
د تا د تلو سره د سترگو توره
کنډر کنډر مې د زړه کلي پروت دی
ستا د کرم په امید ستا منتظر
ستا په درشل کې لاس نیولي پروت دی

▲▲▲

# موري!

**ذبیح الله امان**

اوښکې مې راغلې په گریوان چې رانه تللې موري
سلگۍ وهم ارمان ارمان چې رانه تللې موري
مونږ ته په مینه محبت دې نصیحت کولو
ته وې د مینې لوی جهان چې رانه تللې موري
هره خبره دې د خدای او د رسول کوله
مینه مې ته وې په قرآن چې رانه تللې موري
د جنگ او شور کرکې کینې نه دې نفرت کولو
خفه کیدې په بل انسان چې رانه تللې موري
الله دې درکړي جنتونه زمونږ گرانې موري
دعا کوي درته امان چې رانه تللې موري

## د ستوري استازي

| | |
|---|---|
| کابل | استاد عبدالظاهر شکیب |
| ننگرهار | شفیع الله تاند |
| کونړ | نعمت الله کریاب |
| اسمار | اختر محمد ((مهمند)) |
| لغمان | عسکر خان چالاک |
| باجوړ | سید اغا میاخېل |
| پېښور | زبیع الله شفق |
| جرمني | نسیم ستوری |

## پته:


د کونړ ولایت، د خاص کونړ ولسوالي،
د تنر کلی طلایي بانډه،
د ستوري د خپروني اداره.
کوټوال : ۰۷۷۲۹۳۱۴۲۵
حیات : ۰۷۷۴۳۲۲۴۸۴
کوچوان : ۰۷۷۲۹,۵۳۷۷


***

ستوری مجله د هیچا د لیکنې ننگه نه کوي، هر لیکوال ته بویه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی پخپله وکړي. ستوری مجله به هغه لیکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي یووالي ته په زیان تمامیږي.

سرليکنه

# د ټولنې په سمون کې د ديني عالمانو ونډه

دا ښکاره خبره ده، چې په هره ټولنه کې اخلاقي فساد کم وي، نو هلته د خلکو ژوند ډېر ارام او ښه پر مخ روان وي او دوی، د دې پر ځای، چې د يو چا سره په لانجو کې ښکېل شي، بلکې د خپل پرمختګ او د راتلونکي ژوند په اړه ښه فکر کولای شي، خو هره ټولنه يو شمېر نيمګړتياوې لري او په دوی کې دا نيمګړتياوې اصلاح او سمون غواړي، ځکه بې له سمون هيڅ چاره نه لري.

مونږ دلته په ټولنه کې وينو، چې اکثره ځوانان کار نه کوي او دوی ټوله ورځ په بې کاريو کې تېره کړي، چې د بې کارۍ خير نه ټولنې ته رسيږي او نه هم د هغه ځوان کورنۍ ته څه ورکوي، د يوه ځوان لپاره بې کاري داسې خطرونه رامنځ ته کوي، چې د خپل ژوند په پير کې بيا نه يوازې نوموړي ته مشکلات او ستونزې پيدا کيږي، بلکې د خپلې کورنۍ، کلي قوم او بلاآخره د ټولنې د اوږو بار ګرځي،د هر ځوان احساسات ډېر ځوان وي او په بې کارۍ کې ډېر امکان لري، چې په ډېرو ناوړو عملونو لاس پورې کړي، چې په دې کې يو هم پر نشه يي توکو اموختل کېدل دي، ځوان، چې هر کله د نشه يي توکو پر استعمال اخته شو، نو په دې پوه شه، چې ژوند يې ډېر برباد او تباه دي، ځکه نوموړی د خپل ژوند ټوله سرمايه يوازې نشه يي توکو او نشو ته ځانګړې کوي، خپل ټول جايداد له نشو او تماشو قربانوي او بالآخره زندګي په تورو تيارو کې شي، چې وروسته بيا په نشه يي توکو ځوانان تل خپل لاسونه مروړي، خو په هغه وخت کې اوبه له ورخه تېرې وي.

مونږ منو، چې يو ځوان په ډېره اسانۍ سره د خپلو لوړو احساساتو په مټ له خپلې سمې لارې ناروا ته په ډېره اسانۍ سره اوړي، خو په دې بايد مشران خپلو اولادونو ته سمه پاملرنه وکړي او خپل اولاد کلک وڅاري، څو يې منفي خواوې مالومې کړي او وروسته يې بيا نوموړي ته په ډېره نرمه لهجه وړاندې کړي، چې په راتلونکي کې ځوان له هغو منفي اړخونو څخه ځان وژغوري او پر ځای يې ښو کارونو ته مخه کړي، خو که چېرې يو مشر ووايي، چې خير دی پروا نه کوي ځوان دی وروسته به ښه شي، نو په دې ټکي سره يې د ځوان راتلونکي د تورو تيارو شاته کړ او دغه ځوان به تر آخره په نوموړي پسې ښېرې کوي.

هر مشر که د خپل ځوان په روزلو کې هڅه او هاند وکړي، نو دا ښکاره خبره ده، چې هغه ټولنه يوه پرمختللې او روښنفکره ټولنه ده، ځکه همدا ځوانان دي، چې د ټولنې په سمون کې مثبت رول لوبوي او په راتلونکي کې له دوی څخه داسې يو څوک راوځي، چې هم يې د خپل هيواد په ګټه وي او هم يې خپلو خلکو ته خير رسيږي.

د خپلو کورنيو له مشرانو وروسته په دوهم قدم کې ديني عالمان بايد د ټولنې په سمون او د ځوانانو ښه لورې ته سوق کولو کې پوره ونډه واخلي، ځکه زمونږ ټولنه يوه اسلامي ټولنه ده او د اسلام مقدس دين هغه دين دی، چې په نړۍ کې يې له لارښوونو نورې هيڅ لارښوونې لوړې نه دي، ديني علما کرام بايد د خپلو منبرونو څخه ټول ولس او خلکو ته د اسلام مقدس دين په رڼا کې لارښوونې وکړي، په ټولو کې افغاني ټولنه د ديني علماء کرامو ډېر احترام کوي او همدا لامل دی چې د ديني علماء کرامو تقرير په دوی باندې ژور اغېز کوي، او دغه ديني عالمان په ډېره اسانۍ سره کولای شي، چې خلک له بدو کارونو څخه ښو کارونو ته وهڅوي او د هغه څه پر ضد تبليغ وکړي، کوم چې د اسلام مقدس او سپېڅلی دين اجازه نه ورکوي او هغه څه دي په سختو ټکو کې د خپلو منبرونو له لارې وغندي چې زمونږ په سپېڅلي دين کې حرام ګڼل شوي دي، د دې کار لپاره بايد د حج او قاف رياست بايد بشپړ تياری ونيسي او د دې ثوابي کار لپاره نوموړی بايد پلان جوړ او د جوماتونو ټولو ملا امامانو ته يې وسپاري، چې خلکو ته يې د منبرونو له لارې ورسوي ترڅو زمونږ ټولنه د دغه ديني عالمانو د فعالې ونډې په وجه سالمه او رغنده شي.



# د قرآن کریم په هکله څو خبرې

حافظ فضل حنان مومند د شرعیاتو د دریم کال محصل کابل پوهنتون

**اول : د قرآن کریم صیغه او ماده :**

قرآن مصدردی د سبحان او غفران په وزن او مادې په باره کې علماء دوه قوله لري :

الف : مصدر قول دا دی، چې قرآن دقراء اخستل شوی «قراء یقرء قراة قراناً» لوستلو ته وایي الف او نون په کې زائد دي لکه په سبحان او غفران کې چې زائد دي.

قران د صیغې له حیثه مصدر اما معنی یې د مفعول ده ځکه د مقروء په معنی سره دی یعنې هغه کتاب چې د لوستلو لایق دی او په دنیا کې د هر کتاب څخه زیات لوستل کیږي.

ب : بل قول دا دی، چې قرآن د «قراء یقرء قروء» څخه اخستل شوي دي او قروء جمع ته وایي ځکه کومې ښځې چې اولاد نه وي زیږولی نو خلک وایي : ما قرءت ساقط الی ما جمعت فی بطنها ولداً نو قرء د جمع په معنی له دې وجې نه قروء هم حیض ته وایي او هم طهر ته او د قرآن څخه چې د فصول په معنی واخلو د مجموع په معنی سره ځکه قرآن د سورتونو مجموعه ده که انفال او برات جلا جلا سورتونه حساب شي بیا ۱۱۴ سورتونه او که دواړه سره یوځای حساب شي بیا ۱۱۳ سورتونه کیږي. یا دا چې قرآن د قرن څخه مشتق شوی دی. قرن یو ځای کېدو ته وایي نو قران د مقرون په معنی سره راځي چې همدې د وحي معنی ته یې رجوع کیږي او په دې تفسیر الف او نون په کې زائد نه بلکې اصلي دي.

**دوهم د قرآن نوم :**

د قرآن کریم نوم په خپله په قرآن کریم کې راغلی او هم یې ۵۴ نومونه په قرآن کې شته دي چې دا ټول امام حافظ جلال الدین سیوطي (رح) په الفخاني کې په یوه مشتق فصل کې جمع کړي او ځني یې دا دي.

قرآن، صحف، ذکر، لوح، محفوظ، امام، مسطو، زبور.

**دریم قرآن شریف :**

قرآن شریف یو واضح او مبین کتاب دی، چې د الله ج له

طرفـه پـه حضـرت محمـد ص باندې د جبرئيل (ع) په ذريعه پـه عربـي ژبـه د انسـان د هدايت لپاره نازل شوی دی، په سينو کې محفوظ دی، په ژبو لوستل شوی په صحيفو کې ليکل شوی هغه معجزه ده، چې ټول جهان سره مقابله پرې شوې ده او بالاخره د لفظ او معنی دواړو نوم دی او په قـرآن کـريم کـې تعريـف تـه داسې اشاره شوې ده:

((کتاب انزلناه اليک مبارک ليدبروا اية و ليتذکر اولو الالباب))

څلورم: د قرآن کريم موضوع مکلـف انسـان دی، چـې د انسـان د عقائدو اعمـالو او اخلاقو څخه بحث کوي او هم قرآن کريم دا راپه گوته کوي، چې ښه انسان او بد انسان چا تـه وايـي. د ښـه انسـان او بـد انسان به دنيا او آخرت کې څه انجام وي. د ښه انسان معيار دا دی، چـې هغـه د الله (ج) توحيد منې رسالت قبلوي د اخرت په ورځ ايمان لري او د الله (ج) ټـول احکـام پـه ځـان عملـي کـوي او بـد انسـان د دوی په خلاف د ښو انسانانو مثالونـه، چـې پـه قـرآن کـې ورتـه اشاره شوې، چې هغه ۲۵ پيغمبران او د هغوی ښه امتونـه او پـه انسـان او د هغوی مثالونه هغه ۹ قومو تـه او د هغـوی ملگـري، چې قـرآن ورتـه اشـاره کـړې او بالاخره تباه شو لکه عاديانو، ثموديانو، ايکه، لوط، نوح قـوم، فرعـون قـوم او داسـې نور قومونه. او کومې کيسې چې پـه قـرآن کـې ذکـر شـوی هغه ټولې د انسان څخه بحث کـوي او اسـلوب يـې د وعـظ دي. ځنې علمـاء وايـي د قـرآن کـريم موضـوع توحيـد ده او ځنې نور يې د قرآن موضوع جهاد بولي. دا دواړه کمزورې رايـې دي ځکـه توحيـد او جهاد د انسان پورې اړه لري.

**پنځم: د قرآن کريم هـدف او غائه:**

لکه څرنگه چې د بحث څخه معلـوميږي قـرآن د عقبـی نجـات فـلاح ده. يعنـې څـوک چـې پـه قـرآن عقيـده لـري او عمل پرې کوي په دنيا کې به د سـکون، اطمينـان او خوشحالی ژوند ورپـه برخه شي او پـه آخرت کې بـه يې داسې ژونـد وي چې هلتـه بـه هميشه والـی او بقـا وي. فنا بـه نـه وي ځـواني بـه وي بوډاوالی به نه وي صحت به وي مـرض بـه نـه وي، خوشحالي بـه وي غـم بـه نـه وي.

**شپږم: د قرآن کريم د نازليدو وطن:**

دا چې الله (ج) د قـرآن د نـزول لپـاره مقدس حجاز انتخـاب کړه. لغت يې عربي دی او قوم يې عـرب دی. د دې اصلي او حقيقـي حکمـت څخـه الله (ج) ښه عالم دی ليکن ځنې علماء وايي چې د قرآن کريم د نـزول بنيادي وطن اول مکـه مکرمـه بيا مدينه منوره ده.

مکه پـه عربي کې سرة (نوم) ته وايي لکه څنگه چې نوم د انسان په بدن کې نيمايي منځ دی همدارنگـه د جغرافيـه پوهانو له نظره مکه او مدينه د طول البلد او عرض البلدلـه

اعتبار د ټولې نړۍ منځ دی نو الله (ج) د خپل آخري کتاب لپاره د نړۍ منځ انتخاب کړ، چې دا نور ((ربنا)) هرې خوا ته خپره شي. د مکې مدينې لويديځ ته افريقا ختيځ ته يې ايران، پاکستان، افغانستان، هندوستان، چين، برما، اندونيزيا، ماليزيا شمال طرف ته يې اردن، فلسطين، لبنان، شام، ترکيه لنډه دا چې حجاز د ټولې نړۍ منځ دی او د مختلفو مزاجونو طبيعت لرونکي خلک ورته راټوليداى شي او د حجاز خلک به هم ټولو ملکونو ته د تجارت لپاره تلل او ټول مزاجونه ورته ښه معلوم و.

**د قرآن کريم ژبه او لغت:**

قرآن کريم ژبه عربي ده او د عربي معنی ((عرب عربة)) شګلني ځمکې ته وايي نو څنګه چې ځمکه شګلنه وه نو ځکه په عربي ژبې باندې ونومول شو. يا دا چې د عربو يو نيکه د يعرب بن قحطان په نامه تېر شوی د هغې له وجې ورته عربي وايي. نن ورځ په ټوله نړۍ کې ۲۸۰۰ ژبې دي، چې ليکل، لوستل او ويناوې پرې کيږي. مګر الله (ج) په عربي کې يو څو داسې صفات او مميزات ايښي دي چې هغه د نړۍ په نورو ژبو کې نشته او د هغې له وجې او صفاتو له امله له نورو ژبو بهترينه ژبه ده او الله (ج) بهترين کتاب لپاره خوښه او غوره کړې ده، چې هغه صفات دا دي:

الف: په عربي ژبه کې ايجاز او اختصار وجود لري. يعنې ډېر اوږد مضمون په ډېر لنډو الفاظو کې ادا کيږي. لکه ((ضرب تريد عمراً)) لکه چې اشاره ورته وشوه همدا وجه ده چې په عربي کې ډېر اوږد مضمون په کم کاغذ او لږ وخت کې ليکل کيږي.

ب: په عربي ژبه کې د مترادفو ډېروالى دى يعنې معنى يې يوه الفاظ يې ډېر دي يعنې په عربي ژبه کې دومره پراختيا ده چې په هيڅ ژبه کې نشته. د عربي ژبې پوهان وايي د انګليسي ژبې ټول الفاظ (۸۰۰۰) ته رسيږي ليکن په عربي ژبه کې يوازې د شرابو ۱۰۰ نومونه، د شيدو ۱۷۰ نومونه، د زمري **۲۵۰** نومونه، د اوښې **۳۵۰** نومونه او همداسې نور. همدا سبب دى چې عربي ژبه هيڅ ژبې ته ضرورت او احتياج نه لري.

ج: په عربي ژبه کې شرکت او مشترکات دي. مثلاً په عربي کې خال لفظ لپاره ۲۷ معناوې د عين لفظ لپاره ۷۰ معناوې دي. همدا لامل دى چې د نړۍ ژبپوهان وايي د عربي په شان ښکلې ژبه نشته دى. نور هم ډېر صفات او مميزات لري.

د: عربي ژبه اعراب لري ((زبر زير پېښ)) تثنيه هم د عربي ژبې ځانګړې صفات او مميزاتو څخه شمېرل کيږي. ليکن مونږ د بېلګې په توګه دا يو څو ذکر کړل.

☆☆☆☆
☆☆☆
☆

وکړي خو تر افغان او افغانستانه ډېر په خپله ایډیولوژي قوم ژبه او سیمه پورې نښتې پاتې شول او تر دې ورانـدې نـه ولاړل د ملـي مشرتوب د ایکټ په اول قدم کې د بهرنیانو سترګې پرې خوږې شوې پر څوکیو یې کېنول. پیسې یې پرې وورولې او د لا غټولو وعدې یې ورکړې. همدا و چې له دوی څخه یې د ملي مشرۍ دعوه هېره کړه او په لنډمهاله ګټه یې خولې ورډکې شـوې یا سیاسـي قـدرت تـه ورسـیدل یا پـوځي زور تـه ا و یا هـم ونـه شـو رسـیدلای د ملي مشـرۍ پـه دې توګـه ملـي مشـري پـه رامنځتـه کېـدو کـې لـومړی خنډ بهرنۍ لاسوهنې وې دوی هم د ملي مشرۍ د رامنځته کیدو مخه نیوله او هم یې خلک له داسې مشرۍ څخه د تل لپاره ناهیلي کول چې دا بـاور دلتـه پـوخ داسـې مشـرۍ څخـه د تـل لپـاره نـاهیلي کـول، چـې ګـواکې افغانـان بـه هیڅکله ملي مشرتوب ونه لري.

کـورني خنډونـه هـم کـم نـه وو. معنـوي فقـر کمـزورې اداره د شخصـیتونو کمـی لـه لويـو ګټو څخه بې خبري او افغان محوريت څخه کمزوری درک یې یو څو بېلګې دي.

**دریمه لاره:**

افغانسـتان د ملـي سـتونزې د حـل يـوه لاره د ملـي مشـرتوب رامنځتـه کـول دي. د ملـي مشرتوب چورلیز یا اصلي محور باید (افغان انسان) وي.

افغـان انسـان د دې هېـواد هـر اوسـيدونکی (شهروند) ته وایو، که له هرې ایډیولوژۍ ژبې او قـوم څخـه وي خـو چـې هوسـايينه، ډوډۍ، ښـوونځي، د ګټـې وسـايل او بشـري حقونـه ولري. هر شخصیت یا سیاسي خوځښت چې غواړي د ملي مشرۍ دریځ ته ورپورته شي، باید لاندینۍ ځانګړتیاوې ولري.

۱ـ ملي مشر ښایي ټول ملت د ژغورنې لپاره وخوځولای شي.

۲ـ خپل خوځښت د خلکو له منځه پیل کړي د ولسمشرۍ، ډلمشرۍ یا پردي پالنې له دریځه د ملي مشرۍ پر لوري ورتلل ډېر سخت او آن ناشوني دي.

۳ـ ملـت تـه پـه علمـي او عملـي طرحـو او میکـانیزمونو قناعـت ورکـړي، چـې د ملـي مشرۍ صلاحیت لري.

۴ـ هر څه د افغان انسان لپاره وغواړي.

۵ـ د بهرنیو زهرجنو وعدو ښکار نه شي.

۶ـ د ملت پر اراده تکیه وکړي.

۷ـ د هر بدلون نوښت چې خپل وي.

۸ـ د ملـي مشـر شخصـي پانګـه ښـايي د خوځښت له پیله بیا تر بریالیتوب یا مرګه یوه افغانۍ هم زیاته نه شي، حتی له مشروع لارې هم.

مونږ د ويښتیا پړاو هغه مهال پیلولای شو، چـې پـرمخ وړونکـي يـې ملـي مشـرۍ تـه د ورپورتـه کېـدو وړتيـا ولـري. د ويښـتيا او د روښـانتیا پړاوونـه دواړه همداسـې يـو ملـي خوځښت په لاسونو بشپړیدای شي.

لیکوال : عبدالغفور لیوال

# د ملي مشرۍ تشه

د ډیموکراسۍ له نغارو سره مل یوه نوې نومونه (اصطلاح) چې زمونږ په غوږونو کې راننه ایستل کیږي ملت جوړونه Nation Building ده حال دا چې مونږ دې ته اړتیا نه لرو ځکه مونږ لاله پخوا څخه ملت یو.

هغه څه چې مونږ نه لرو ملي مشري یا National Leadership دی.

**ملي مشري څه ده؟**

هر کله چې یو شخص یا سیاسي حرکت وکړای شي د یوې سترې ملي مسئلې ستونزې یا پېښې پر مهال یو ملت یا د یوه هېواد بشپړ اکثریت د مثبت حل لوري خوا ته وروخوځوي او له ستونزې څخه یې وژغوري، ملي مشري یې رامنځته کړې ده. په داسې حال کې مهمه دا ده چې دغه شخص یاسیاسي حرکت خپله اداره ولري او د ملت خوځښت یا Mobilize کولو نوښت یې خپل وي.

مونږ لسیزې کیږي چې داسې ملي مشر یا ملي مشرتوب نه لرو دا به نه هېروو چې د ګوندونو ډلو حتی حکومتونو مشران ملي مشران نه وي او د ایډیولوژۍ قومونو ژبو ځوکیو او ګټو په نامه راپاڅیدلي ډلمشران ملي مشران نه شو ګڼلای او نه هم د هغو پلویان د ټول ملت استازیتوب کولای شي.

ګاندهي د هندوستان په سلګونه میلیونه هندوان مسلمانان عیسویان او نور لږه کي د هندوستان د آزادۍ په نامه د خپل عدم خشونت پر فلسفه راوخوځول چې له انګلستان خپل هېواد وګټي. نلسن منډیلا د جنوبي افریقې خلک راوپارول چې د توکمیز تبعیض پر ضد یې سره یو کړي داسې کسان ملي مشران وو.

مونږ درې لسیزې شوې، چې د جګړې په اور کې سوزو خو یو ملي مشر مو ونه موند، چې ټول ملت پر سوله باوري کړي ورورګلوي پخلاینې پرمختګ او ملي پیاوړتیا ته یې وهڅوي.

**ستونزه چېرته ده ؟**

تر هر څه بنسټیزه ستونزه دا ده، چې زمونږ په هېواد کې پر خپله اداره باندې اعتماد او باور له منځه تللی دی. ذهني اسارت مونږ دې ته نه پرېږدي، چې ملي مشرتوب رامنځته کړو. ملاتړ یې وکړو ورپسې ولاړ شو یا یې وپالو ډېرو کسانو هڅه وکړه د ملي مشرۍ دعوه

وکړي خو تر افغان او افغانستانه ډېر په خپله ایډیولوژي قوم ژبه او سیمه پورې نښتې پاتې شول او تر دې وړاندې نه ولاړل د ملي مشرتوب د ایکټ په اول قدم کې د بهرنیانو سترګې پرې خوږې شوې پر څوکیو یې کېنول. پیسې یې پرې وورولې او د لا غټولو وعدې یې ورکړې. همدا و چې له دوی څخه یې د ملي مشرۍ دعوه هېره کړه او په لنډمهاله ګټه یې خولې ورډکې شوې یا سیاسي قدرت ته ورسیدل یا پوځي زور ته ا و یا هم ونه شو رسیدلای د ملي مشرۍ په دې توګه ملي مشري په رامنځته کېدو کې لومړی خنډ بهرنۍ لاسوهنې وې دوی هم د ملي مشرۍ د رامنځته کیدو مخه نیوله او هم یې خلک له داسې مشرۍ څخه د تل لپاره ناهیلي کول چې دا باور دلته پوخ داسې مشرۍ څخه د تل لپاره ناهیلي کول، چې ګواکې افغانان به هیڅکله ملي مشرتوب ونه لري.

کورني خنډونه هم کم نه وو. معنوي فقر کمزورې اداره د شخصیتونو کمی له لویو ګټو څخه بې خبري او افغان محوریت څخه کمزوری درک یې یو څو بېلګې دي.

**دریمه لاره:**

افغانستان د ملي ستونزې د حل یوه لاره د ملي مشرتوب رامنځته کول دي. د ملي مشرتوب چوکاټ یا اصلي محور باید (افغان انسان) وي.

افغان انسان د دې هېواد هر اوسیدونکی (شهروند) ته وایو، که له هرې ایډیولوژي ژبې او قوم څخه وي خو چې هوساینه، ډوډۍ، ښوونځي، د ګټې وسایل او بشري حقونه ولري. هر شخصیت یا سیاسي خوځښت چې غواړي د ملي مشرۍ دریځ ته ورپورته شي، باید لاندینۍ ځانګړتیاوې ولري.

۱ـ ملي مشر ښایي ټول ملت د ژغورنې لپاره وخوځولای شي.

۲ـ خپل خوځښت د خلکو له منځه پیل کړي د ولسمشرۍ، ډلمشرۍ یا پردي پالنې له دریځه د ملي مشرۍ پر لوري ورتلل ډېر سخت او آن ناشوني دي.

۳ـ ملت ته په علمي او عملي طرحو او میکانیزمونو قناعت ورکړي، چې د ملي مشرۍ صلاحیت لري.

۴ـ هر څه د افغان انسان لپاره وغواړي.

۵ـ د بهرنیو زهرجنو وعدو ښکار نه شي.

۶ـ د ملت پر اراده تکیه وکړي.

۷ـ د هر بدلون نوښت چې خپل وي.

۸ـ د ملي مشر شخصي پانګه ښایي د خوځښت له پیله بیا تر بریالیتوب یا مرګه یوه افغانۍ هم زیاته نه شي، حتی له مشروع لارې هم.

مونږ د ویښتیا پړاو هغه مهال پیلولای شو، چې پرمخ وړونکي یې ملي مشرۍ ته د ورپورته کېدو وړتیا ولري. د ویښتیا او د روښانتیا پړاوونه دواړه همداسې یو ملي خوځښت په لاسونو بشپړیدای شي.

# د محمدي دين په رڼا کې د اسقاط شرعي بڼه

مولوي حضرت نبي خاص کونړ

باعث د تحرير دا دی چې دې ملک کې يو فرقه پيدا شوې ده چې هغې ته بدعتيان وايي او بدعات خرافات شايع کوي، بدعت هغه قبيح عمل دی چې د الله رسول وايي هر بدعت ګمراهي ده او څوک چې ګمراه شو هغه به اور ته ځي، يو رايج او مشهور بدعت هغه (حيله اسقاط) او (دور) ورته هم وايي چې مړی وشي نو د هغې څخه پيسې ټکی وي، نو مولويان صاحبان يو کړی جوړه کړي او هغه يو بل ته وربخښي نو دا هغه عمل دی چې نه الله پرې امر کړی نه د الله رسول ويلي او نه يې کړی، خو بدعتيان د اثبات لپاره څه ضعيف (کمزوري) دليلونه پيش کوي، نو هغه مونږه رانقل کوو او بيا د هغې جوابونه چې دغه دليلونه کمزوري دي او دليل د دوی دا يو روايت دی چې په فتاوی سمرقنديه کې نقل دی: ((حدثنا العباس بن سفيان عن ابن علية عن ابن عون عن محمد عن عبد الله قال، قال عمر رضي الله عنه: ايها المؤمنون اجعلوا القرآن وسيلةً لنجاة الموتى فتحلقوا و قولوا لهم الله اغفر لهذا الميت بحرمة القرآن المجيد، و تناوبوا بايديكم متناوبةً و فعل عمر رضي الله عنه في آخر الخلافة، مثله في زمانه لامراة ملقبة بحبيبة بنت عربد زوجة قلاب بجزء القرآن من مالي الى عمُ و شاع فعله في زمانه خلافة عثمان رضي الله عنه بانكار مروان بعنادٍ، و قال الامام السمرقندي ثم اشتهر في خلافة هارون الرشيد من غير انكار نكير دوران القرآن لحيلة الاسقاط بسند قوي كما قالا لمورخ صاحب الفتوح

اخبرنا ابو عاصم عن ابن جريج عن ابن شهاب عن ابي مسلمة عن ابي موسى قال فعل عمر رضي الله عنه تعاور جزء القرآن في حلقة عشرين رجلاً بعد صلوة الجنازة لامراة ملقبة بحبيبة. الخ

و لرجل من قبيلة الانصار ما حفظنا اسمه و ثبت بهذا السند ايضاً اخبرنا سعد عن ايوب عن جميع عن عبد الرحمان بن ابي بكر انه اوجد، دور القرآن عمر رضي الله عنه و القرآن شافع للمؤمنين حياتاً و بعد ممات، انتهى فتوى السمر قندية لامام ابو الليث.))

حاصل د روايت دى چې بدعتيان وايي حيله اسقاط د عمر رضي الله عنه نه د دې اصل ثابت دى، او دا د مړو وسيله کړئ او عمر رضي اله عنه د يوې ښځې لپاره کړى وو، چې لقب يې حبيبه و او په خلافة عثمان کې هم داحيله وه، مونږه وايو دا يو د ځانه جوړ شوى روايت دى او په عمر رضي الله عنه بهتان لګول دي، اوله وجه د کمزورۍ د دې روايت دا ده چې دا محدثينو نه دى نقل کړى، که دا واقعاً حديث وي نو پکار وه چې حديثونو کتابونو کې وي، او سمرقند خو يو فقيه سړى دى.

دويم: جواب دا دى چې حديث راوي عباس بن سفيان دى او هغه مجهول دى او د مجهول راوي روايت قبول نه وي

دريم: جواب دا دى چې روايت کې انقطاع ده په منځ کې د سمرقندي او ابن عليه کې ځکه سمرقندي په سنه ۳۸۳ھ کې تېر شوى او ابن عليه په سنه ۱۹۳ھ يا په ۱۹۴ھ کې نو حيرانتيا ده په يوه واسطه ابن عليه نه نقل کوي او منځ کې يو سلو نهه اتيا کاله فاصله ده، تهذيب صـ ۲۷۹د دې روايت دويم سند صاحب الفتوح بيان کړې، چې واقدي دي او دا په کذب او دروغو مشهور دى او امام بخاري ابن المالک ابن نمير او اسماعيل بن ذکر دېته متروک الحديث ويلى، ابن معين ورته ضعيف او ليس بشيء وايي، امام احمد وايي دا کذاب دى، دغه زمانه کې څلور مشهور دروغجن ؤ، يو د هغوى نه واقدي دى. نسائي تهذيب التهذيب، صـ ۳۲۴، ۳۲۷، بل راوي ابن جريج دى او دا مدلس دى او د دې روايت د زهري نه هيڅ شى ندى، ابن معين بل دا چې جريج خواهش پرسته ؤ، څلورنيم شل ښځو سره نکاح متعه کړې وه او دا يې جايز ګڼله، ميزان الاعتدال صـ ۱۵۱، ج۲

امام احمد وايي جريج به موضوعي روايات نقل کول، تهذيب صـ ۴۹۲، دريم سند کې عن ايوب و سعد و جميع، نو دا جميع مجهول دي (نامعلوم) او د مجهول روايت قبول وړ نه وي، نو څوک چې دغه جميع توثيق دعوه کوي نو ثابت دې کړي. درايةً هم ضعيف دى، رکاکت د الفاظو پکې دي: اول: دا روايت چېرته شيعه او روافضو جوړ کړى، ځکه عمر رضي الله عنه او هارون الرشيد او عثمان

رضي الله عنه ته په خاص طور منسوب شويدی او علي رضي الله عنه نوم ندی ذکر او خلاف د مروان ذکري عناد له وجې.

دويم: نقض که دا حيله خلفاء راشدينو وخت کې شوې وي نو محدثينو دا ستره واقعه ولې نه نقل کوله.

دريم: نقض دی روايت کې چې اوجد دور القرآن، عمر رضي الله عنه نو دا خو څه ساينس نه دی او نه څه ايټم بم دی چې اوجد وايي بلکې امريا حکم عمر رضي الله عنه پکار وو، «اوجد» دلته د ترکيب عربي نه خلاف دي او کورنۍ عربي ده، حاصل دا شو دغه روايت حيلې اسقاط ثابتولو لپاره پيش کول غلط دي او دا په عمر رضي الله عنه دروغ ويل دي او بدعتيانو سره نور هيڅ يو دليل نشته چې په هغې حيله ثابته کړي، صرف يو دروغ دوی په امام محمد رحمه الله جوړ کړی چې هغه کتاب الحيل کې ويلي: (ان يبيع الوارث علي الفقير مصحفاً صحيحاً قابلاً للقراءة نعين فاحش. الخ)

چې وارث د مړي په فقير باندې يو قرآن واخلي په درونډ قيمت نو بيا به دا فقير وارث ته هبه کوي او وارث فقير ته تر هغې چې د روژو مقابل شي، نو د دې لنډ جواب ابوسليمان په جواهر المضيه صـ ۲۸، ج۲ کې کړی وايي: کذبوا على محمد ليس له کتاب الحيل، په محمد دروغ وايي کتاب الحيل د محمد نشته، بل دا چې مخلوق عند غبن فاحش نه قبلوي، او کله چې الله سره معامله ده نو فقير ته دې په غبن فاحش قرآن ورکړي، دا د الله (ج) سره دوکه ولې کوي، اوس د حيلې اسقاط لپاره د ابطال دليلونه وګورئ:

اول: قرآن کريم: و ما اتاکم الرسول فخذوه و ما نهکم عنه فانتهوا. الآية

څه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم راوړي وي هغه واخلئ او څه چې منع کړې هغه مه کوئ، نو آيت اول جز قول، فعل، تقرير ته شامل دي او دا کار نه هغې ويلی دي نه کړي، او نه صحابي د هغه په مخکې کړي چې هغه پرې چپ وي.

دويم: قال النبي الذي يعود في هبته کالکلب يعود في قيئه، بخاري، ص ۳۵۷، ج۱، صـ ۳۲، ج۲ مسلم.

هغه شی څوک چا ته هبه کړي او بيا بيرته اخلي لکه سپي چې خپل (قی) د (کانګې) بيرته خوري نو حديث پدې دليل دي، چې هبه شوی شی بيرته اخستل حرام دي، ځکه يو شی چا ته وبخښل شو هغه مالک شو.

نو دغه حيله کې هم يو ځل يو شخص ته وبخښل شي بيا ترېنه بل اخلي نو نبي صلى الله عليه وسلم وايي دا کار څوک کوي سپی دی، ځکه د سپي «خصلت» خوي پکې راغی اوس د دې حيلې ابطال لپاره د جيدو علماو اقوالو ته رجوع کوو، شيخ رشيد احمد ګنګوهي فتاوی رشيديه صـ ۲۲ کې ليکي دا حيله اسقاط مروجه محض باطله ده او دا په

قرون مشهود لهم بالخير کې نه وه، احسن الفتاوی: صــ ۳۴۸، ج۱ کې ليکي حيله اسقاط مروج حرام او بدعت ده، نه په خير القرون کې شته او نه د فقه په جيدو کتابونو کې شته، بيا وايي: قال تعالی: اليوم اکملت لکم دينکم، تاسو ته ما خپل دين پوره کړ، بيا وايي: قد کان لکم في رسول الله اسوة حسنة، تاسو لره د رسول صلی الله عليه وسلم په قول فعل تقرير کې خايسته طريقه ده او هر هغه فعل چې الله رسول نه وي کړی او څوک کي چې دا يو ښه کار دی دی ګمان کوي چې رسول خيانت کړی، رسالت کې منهاج الواضح د شيخ سرفراز خان صــ ۲۸۳کې ليکي چې دا يو بدعي حيله ده نه په زمانه د رسول کې وه نه په زمانه صحابهؤ کې وه او نه د مذاهب اربعهؤ په کتابونو کې شته دا څه بعضې بدعتيانو وضع کړېده، دغه شان فتاوی دار العلوم ديوبند صــ ۸۲، ج۲ کې ليکي، حيله اسقاط شرع نه خلاف ده او وصيت يې حرام دی، شاه انور شاه الکشميري په فيض الباري صــ ۳۰۲، ج۱ کې ليکي دا حيله چې مبتدعين کوي دا د شارع نه ده، ثابته او نه د سلفو نه او خير القرون کې د دې څه اثر نشته، دا مشت نمونه خروار څه بحث پدې مونږه وليکه داسې نور ډېر دلايل په ابطال د دې قبيح فعل شته خو که هغه راجمع کوو نو پدې اوراقو کې به راجمع نشي، خو دا صرف ستاسو تسلی لپاره يو څه دلايل مونږ ذکر کړه، د هر څه څخه پرته دغه يو دليل زمونږ ستاسو لپاره کافي دی چې شارع پدې شي امر ندی کړی که ښه کار وي نو شارع به مونږه ته امر کړی وي او عدم نقل دليل دی په کراهت.

توصيه: مسلمانانو وورونو علماؤ او غير علماؤ څخه هيله لرم چې دا ليکل شوي اوراق په ډېر غور او فکر او عادلانه نظر سره وګورئ تر څو مونږه د دغه قبيح عمل څخه بچ شو، دا هغه قبيح عمل دی چې مونږه او تاسو رسول الله صلی الله عليه وسلم د شفاعت څخه او حوض کوثر د اوبو نه محروم کوي او الله دې مونږه د تعصب او عناد څخه بچ وساتي ځکه دا هغه مرض مهلکه دي چې علاج يې سخت دي مونږ کې انابت حق ته رجوع پيدا کړي. امين يا رب العالمين و الی الله المشتکی و منه المستعان علی ما يقول المبتدعون.

## غزل

**محبت يوسفزی**

ستا د مړو سترګو کتو رانه زړه وړی
دغه ښکلو سحرانو، او ليونو رانه زړه وړی
ستا د غرڅنو په يوه، نظر زه ليونی شوم
دغه د ښارونو ښاپيرو رانه زړه وړی
د کليوالي، ښکلی هسې نوم بدنام دی ګوره
دغه مړو سترګو خمارو رانه زړه وړی
زه محبت چې تماشه هم نداره وکړمه نو
په ځان شم په وه زلفو اوږدو رانه زړه وړی

ليک محمد رحيم يوسفي

# د پښتو او پښتونولی دلارې د ستر مجاهد د خدای بخښلي ارواښاد ډاکټر کبير ستوري ژوند ليک او جدوجهد ته يوه لنډه کتنه

چې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي



دا د طبعيت قانون دی، چې انسانان مري خو کارنامې يې د تاريخ په سينه کې ژوندۍ پاتې کيږي. د ښو او بدو اعمالو قضاوت تاريخ په غاړه اخيستی دی او د ميزان تله هم د تاريخ د ځواکمنو متو په واسطه چليږي، چې که څوک ښه کوي ښه او که څوک خدای مه کړه د خپل قوم، ملت او يا ملتونو په وړاندې خيانت کوي او يا يې په شکل د اشکالو بدو اعمالو ته ملا تړلې وي نو د شخص او اشخاصو د سوانخ په دفتر کې د تاريخ په اند د نامطلوبو اشخاصو په حيث ثبت او لازمه معامله ورسره ترسره کيږي.

د افغانستان پنځه زره کلن تاريخ د حماسو، جنګونو، کړاوونو، مرګونو، دردونو او تاخت و تازونو ډک تاريخ دی، چې معمولاً د همدې اوږدو پېړيو ۲/۳ برخه ژوند يې په جګړو کې تېر شوی دی. زموږ د سپېڅلې خاورې او د وطن دښمنانو افغانان په کراره نه دي پرېښې تر څو د خپل ګران هېواد په ګرمه غېږه کې هغه پاکه هوا په آرامۍ سره تنفس او لکه د نړۍ د نورو ملتونو په څېر پرته له ويرې، ګواښ، تيري او تجاوز ژوند وکړي.

متجاوز او غارتګر دشمن لکه د نن په څېر د دې غيرتي خاورې د نيولو او ايل کولو هوډ د هېواد د څلورو لورو څخه د تل لپاره جاري

ساتلی دی، خو خوشبختانه چې افغاني سرسپارلو لښکرو زمونږ د خاورې، وطن او د ملت د دښمنانو د هر راز توطئو او دسیسو په مقابل کې هیڅکله هم ځانونه بې تفاوته نه دي نیولي او د دښمن هر نوع تاړاکونه یې په شا تمبولي دي.
له کومه ځایه چې ما ته معلومه ده افغانانو د تاریخ په اوږدو کې متاسفانه نړیوال دوستان ډیر کم خو دشمنان یې لکه د نن او د سبا په څیر خورا ډیر زیات درلودلي دي. د ګاونډیانو څخه نیولی تر اروپا او امریکا پورې ټولو د افغانستان سیاسي جغرافیاوي حریم ته تېري ناست دي. که هېواد مو سمندرونو ته مستقیماً لاره نه لري نو جیولوستیک موقعیت یې د سکندر کبیر څخه رانیولی بیا تر امویانو، جنګیزیانو، مغولانو، روسانو، یا د فارس د صفویانو، انګیسانو، او ان د امریکایانو پورې هر یوه په جلا، جلا توګه د دې هېواد په سیاسي جغرافیاوي حریم باندې خپل خونړي تجاوزات جاري ساتلي دي. زمونږ د هېواد او هېوادوالو په پت او عزت کې چې څومره یې په وس کې پوره شوې خپلو تیریو ته دوام ورکړی دی خو په یاد ولرئ، چې داسې هیڅکله هم نه دیشوي چې زمونږ د میړنیو په خاوره دې یرغلګرو بېګانه ګانو خپل سیاسي قیادت جاري ساتلی وی، دا ځکه چې د افغانستان غېږه تل د میړنیو غازیانو

او سرسپارلو مشرانو کور او کهول پاتې شوې ده. دی هېواد پخپله ګرمه غېږه کې د خراساني ابومسلم، سلطان شهاب الدین غوري، شیرشاه سوري، سلطان محمود غزنوي، میرویس خان هوتکي، احمد شاه ابدالي، غازي محمد ایوب خان او د شاه امان الله خان، بابا وزیر محمد ګل خان مومند او د وطن یو شمیر نور هېوادپال سرښندونکي او د وطن په استقلال او آزادۍ مین غوندې باتوره مشران، رهبران ا و سپاه سالاران په خپل غېږ کې روزلي دي چې هر یوه یې په خپل وخت او دوران کې اغیار په خپل سرلوړي هېواد کې خپل سرعت ته نه دي پرېښي او داسې تیندکونه یې ورکړي دي چې په کیسو او نمکونو یې مونږ او زمونږ راتلونکي نسلونه هم پوره پوره افتخار کولای شي.
دا زمونږ د سنګر قهرمانان دي، چې په خورا میړانه او سرښندنې سره یې د هېواد لویشت لویشت خاوره د وحشي دښمن د ډېرو خطرناکو تاړاکونو څخه خوندي ساتلې ده.
پر ځای ګڼم چې که د دوی یو شمېر د توري او د سنګر قهرمانان و نو په منځ کې یې د شعر، ادب، سیاست او د قلم پاخه، پاخه مینان هم لیدل کیږي، چې هم یې د هیواد هر سنګر د دښمنانو د حملو او یرغلونو څخه خوندي ساتلی او هم یې د خپل توانا قلم په زور خپل هیوادوال راویښ کړي دي. په نړۍ

کې به داسې څېرې خورا ډېرې کمې او یا به هیڅ نه وي چې یو څوک دې هم ښه ځواکمن قوماندان، ښه سیاست وال، زړه سواندی رهبر، ملي شخصیت او په عین مان کې لوړ لیکوال او ستر ادیب پاتې شوی وي.
خوشبختانه چې افغاني ټولنه د دغسې شخصیتونو بېلګې خورا ډېرې زیاتې لري، چې د نمونې په ډول د ستر احمد شاه بابا، شاه امان الله خان غازي او د پښتنو د بابا وزیر محمد ګل خان مومند او د یو زیات شمېر نورو نومونه یادولای شو.
په پښتني ټولنه کې د سیاست او د ادب قهرمانان هغومره ډېر زیات دي لکه د تورې او د سنګر قهرمانان چې په کې زیات لیدل کېږي. د ساری په توګه عبدالرحمن بابا، خوشحال خان خټک او په راورسته کې اروابناد ګل پاچا الفت، عبدالرؤف بېنوا، علامه عبدالحی حبیبي، قیام الدین خادم، صدیق الله رشتین، عبدالشکور رشاد، پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ، اجمل خټک او د ډاکټر محمد کبیر ستوري او د یو شمېر نورو نومونه یادولي شو.
زمونږ د هېواد په غېږ کې داسې نومیالي شخصیتونه هم تېر شوي چې د مهاجرت او کډوالۍ په دوران کې یې هم د هېواد، خلکو، پښتو، پښتونولۍ او د هېواد د استقلال او آزادۍ په نامه خپل رسا غږ آن د غربي آروپا د غاړو، ځنډو څخه داسې تنظیم کړي چې بیا دا غږ د لرې او برې پښتونخوا په ډېرو او حجرو ګرځېدلی او د پښتنو د یو موټي توب چیغه یې ورته کړې ده او دا ډاکټر کبیر ستوری و. ده به هر وخت د پاچا خان (فخر افغان) دغه مقوله د پښتنو په منځ کې ډېره تکراروله چې ((یا به یو کیږیو که نه ورکیږو)).
دا لکه د خدایي خدمتګارانو په څېر آن د هېوادپه ډېرو سختو شرایطو کې پښتنو د مشرانو هرې دروازې ته ځان رسولی او په پښتني دود سره یې په حجرو او دیرو کې د دې روان حالت د خلاصون په خاطر جرګې او مرکې کړې دي.
د ده لاره د فخر افغان پاچا خان د عدم تشدد لاره وه خو په عدم تشدد کې یې د پښتنو د حق خودارادیت غوښتنه خپله سیاسي کړنلاره ګرځولې وه. ده د ارواپوهنې په برخه کې آن د دکتورا درجه ترلاسه کړې خو د سیاست او ادب لاره یې هم په کلکه تعقیبوله. دا ستر پښتون ډاکټر کبیر ستوری و چې د کونړ د هسکو غرونو او وادیو څخه یې سر راپورته او په نړیواله کچه باندې یې د پښتنو د پېژندلو په برخه کې آن د مرګه پورې ستر رول ادا کړ.
ښه مې په یاد دي چې اروابناد کبیر ستوری په یوه غونډه کې وویل چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی خو په دې ګډ او ستر کور کې باید د هر قام او د هرې قبیلې

ونډه، واک، اختيار او د هېواد په سياسي، اقتصادي او ټولنيزو فعاليتونو کې د هغوی رول د هغوی د نفوسو د فيصدۍ په تناسب بايد د دموکراسۍ په اصولو په قانون کې تسجيل او تثبيت شي.

دی په دې عقيده و چې هيواد په سياسي جغرافياوي جوړښت کې د پښتنو ستر او عظيم توکم ټاکونکی رول لوبوي او د رول د لوبو توان هرو مرو شته.

دا ځکه چې د يوه انګريز پوه الفنستون په قول چې ليکلي يې دي: ((افغانستان د اسيا هغه هيواد دی چې لرغوني او سيدونکي يې پښتانه دي)) نو پس افغانستان د ټولو افغانانو او په خاص د پښتنو ستر کور ګڼل کيږي. دا ستر کور د پښتنو په مټو آباديدای شي او بس. ډاکټر کبير ستوري په دې عقيده وو چې که پښتون توکم په افغانستان کې موجود نه وای نو د افغانستان جيولوستيک، سياسي، جغرافياوي موقعيت هم د کلکې پوښتنې سره مخامخ کيدای شي ځکه افغانستان کې ميشته واړه توکمونه د دې توان نه لري چې د استعمارګرانو په مقابل کې ډال او کلک مقاومت وکړي. همدا پښتانه توکم دی، چې د ايران د قاجاريانو نه نيولی بيا تر صفويانو او اوسنيو اخوندانو پورې او د ستر روسي پتر کبير څخه رانيولی تر اوسني ولاديمير پوتين پورې او د انګليس د سترو لارنسانو څخه رانيولې بيا د جورج ډبليو بوش او اوباما پورې يې له يوې مخې په لړزېدو راوستي دي. هغه چنګيزيان او مغولان خو د لوی سلطان سکندره پورې نور هغه څوک دي چې په دې هېواد کې يې ورته د سر په کاسه اوبه ورکړې شوي دي.

د پښتنو نيکونو چې بهرنيان په افغانستان کې حکومت او حکومتداری ته نه دي پريښي نو بې له شکه چې د هغوی بچې او لمسي يې هم په خپله آزاده او سپېڅلې خاوره کې حکومت کولو ته هيڅکله هم نه پريږدي. د پښتنو برحقه مبارزه به د هېواد په هر سنګر کې تر هغو پورې ګرمه روانه وي ترڅو يې يو ځل بيا هم د نړۍ سترو استعماري ځواکونو خصوصاً د امريکا سترې امپراتورۍ ته په قطعي توګه ماتې ورکړی نه وی او د هېواد پاکه خاوره يې د هغوی د کرغېړنو جسدونو څخه خالي کړې نه وي خو که پښتانه يو ځل بيا صادق او په پښتو او پښتونولۍ مين مشران پيل کړي.

پښتانه نه تروريستان، نه دهشت ګرد، نه بنيادګر او نه هم د القاعدې د تروريستي شبکو سره اړيکي لري. دا ټولې د استعمار توطيئې او پراخه دسيسې دي، چې هغوی خپلو ستراتيژيکو اهدافو ته د رسولو په خاطر په افغانستان کې په کار اچولي دي او د خپلو ايجنټانو لاسپوڅو او خرڅ شويو افغانانو په وجود کې يې په هېواد کې

تطبيقول غواړي، چې په دې توګه پښتانه په کې د ناتارونو او د رنګا رنګو مرګونو او دردونو کندې ته راښکل کېږي. لکه څنګه چې ګرد پښتانه د استعمار او ښکېلاک سره په تضاد کې پاتې دي هماغسې ډاکتر کبير ستوري هم د استعمارګرانو او ښکېلاک ګرانو په سياسي اهدافو ډېر ښه پوهيده او د دغه منفي پديدې پر ضد يې بې آمانه سياسي مبارزه د پښتون توکم محفوظ حق ګڼلی دی او تل د استعمار، ښکېلاک او زبېښاک سره په تضاد کې پاتې شوی دی. د ډاکټر کبير ستوري د هغه چا سره ناسته پاسته او راشه درشه وه چې پښتو يې ويله، پښتو يې ليکله او پښتونواله يې کوله خو دا هيڅکله هم په دې معنا نه وه چې ګوندې په افغانستان کې د ميشته اقليتونو او لږه کيو سره يې د کينې، بغض او بغاوت څخه کار اخيسته. ده د هر چا سره شه سلوک درلوده خو د هغه کسانو سره يې نه پخلا کيدونکي اړيکي درلودل، چې پخپل ولس به يې رنګا رنګ سوداګري پېل کړې وه او د بيګانه ګانو چوپړتيايې د خپلو ځانونو او د خپلو ولسونو خير اومنفعت تعبيراوه.

افغانستان هغومره چې اوږد او د وياړه ډک تاريخ لري هماغومره په خپل وياړلي تاريخ کې د ښکېلاک ګرانو سره په خورا اوږدو او خونړيو جګړو کې لاس او ګريوان پاتې شوی دی. افغانانو په عامه ډول او پښتنو په خاصه توګه د دې هېواد آزادي، استقلال، ځمکنۍ بشپړتيا د پښتنو د فرهنګي او کولتوري ميراثونو سره يوځای د يرغلګرانو او تاړاک ګرانو څخه د تل لپاره خوندي ساتلې ده. دا د تاريخ يو زرين واقعيت دی که دا واقعيت د پښتون دښمنه کړيو کورني او بهرني دښمنان مني او که نه؟

دوستانو، عزيزانو او په المان کې ميشته پښتنو!

يو ځل بيا هم د همدې فرصت څخه په استفادې تاسو ټولو ته خبرداری درکوم، چې ستاسو خاوره، ستاسو ملک، ستاسو خپلواکي او استقلال، ستاسو اصل کلتور او فرهنګ، ستاسو ژبه، ستاسو مکتب، مدرسه او پوهنځی او بالاخره ستاسو مادي او معنوي شتمنۍ ستاسو د وطن او ستاسو جغرافيايي حريم د ستر او عظيم استعماري او ښکېلاکي دښمن د بې شمېره توطيئو سره مخامخ ده د تروريست، فينډمنټالست، القاعدې او د ځينو نورو نومونو استعمال يوازې او يوازې تاسو ته استعمالېږي. که ځانونه واقعاً پښتانه ګڼو او خپل اصيل پښتني ميراثونه ژوندي ساتل غواړو نو دهېواد په دې حساسو او سرنوشت جوړوونکو شيبو کې ځانونه بې تفاوته نيول يو ستر جنايت او د تاريخ سره ستر خيانت دی.

آيا پوهېږئ، چې په هرو ۲۴ ساعتونو کې

قصداً او عمداً څومره پښتانه د پښتون دښمنه کورنیو او بهرنیو کړیو په کرغېړنو لاسونو وژل کېږي او یا له منځه ځي؟
آیا پوهیږئ چې څومره مکتبونه (ښوونځي او پوهنځي د دیني مدرسو سره یوځای) په پښتون میشته سیمو کې د یرغلګرانو او وطن ته د خاینو ډلو د اور په لمبو سوځېږي؟
آیا په دې هم پوهیږئ چې په یوه تعلیمي کال کې د پښتنو څومره بچیان د تعلیم، تحصیل او د سواد له نعمت څخه قصداً د یوې پراخه نړیوالې توطیئې په ترڅ کې بېرته پاتې کېږي؟
آیا په دې هم پوهیږئ، چې د جنګ او جګړې خصوصاً د افغانستان د اشغال په کلونو کې پښتون میشته سیمې په اقتصادي او ټولنیز لحاظ څومره وروسته پاتې او د روان کاروان څخه وروسته ساتل شوي دي؟
په دې باندې ځانونه هم پوهول په کار دي، چې د تریاکو، افینو او کوکنارو کرلو مرکزونه ولې د بهرنیو کړیو په واسطه په پښتون میشتو سیمو کې ټاکل شوي دي؟
آیا په دې به هم پوهیږئ، چې عمراني چارې او اقتصادي ټول ګټې پروژې په پښتون میشته ولایاتو کې قطعاً نشته او چې کومې دي هغه هم تش په نامه یې تاداوونه ایښودل شوي خو دروازې یې قلفې ساتلې شوي دي.
ایا په دې هم پوهیږئ، چې د لرې او برې پښتونخوا جمعاً پنځوس میلونو څخه زیات پښتانه ټول د اسامه بن لادن بچي دي او که د دغه لعنتي نامه لاندې ستاسو د ستر توکم پر ضد د نړۍ په دې سیمه یوې ستړې ملي سیاسي خطرناکې لوبې ته د نړیوال امپریالیزم، صهیونیزم او په سر کې د امریکا د متحده ایالاتو د امپریالیزم او استعمار له خوا سازمان ورکړی شوی دی؟
آیا په دې به هم پوه شوي یاست، چې د رواني تحمیلي جګړې په تاوده تناره کې غوڅ اکثریت پښتانه له منځه ځي خو دولتي او حکومتي واک د بل چا سره دی او هغه کوم څوک چې تش په نامه یې څوکۍ نیولې د شاه شجاع په اندازه واک هم ورسره نشته؟
کلکه پاملرنه په کار ده تاسو د دې غوڅ اکثریت سره سره اوهم د دې سره سره چې د دې هېواد اصلي اوسېدونکو په حیث د هېواد د ملي نوامیسو او د خاورې اصلي ساتونکي او حامیان یاست بیا هم تاسو د خپلو ملي حقه حقوقو څخه خو لا پر ځای پرېږدئ چې په خپله ملي مورنۍ ژبې د بیانیې ورکولو، مکتوب لیکلو او خبرو کولو څخه په دولتي کچه هم محروم پاتې شوي یاستئ. ډاکټر کبیر ستوری به لکه د پاچا خان په څېر په ټولو پښتنو باندې کلک ټینګار کاوه چې خپل بچي ښوونځیو، پوهنځیو او مدارسو ته ولیږئ او په ډېرو سختو شرایطو کې هم لوړ تحصیلات پای ته رسوئ.

په دولتي او حکومتي چوکاټ کې ډېر داسې کسان شته، چې په پښتو ژبه غږېږي خو په دې وروستیو لسیزه کې داسې څوک ما ونه لیده چې په پښتو ژبه یې مکتوب لیکلی وي او یا دې د پښتو او د پښتنو په نامه یې خپل رسا غږ پورته کړی وي. مونږ د محمد گل بابا، الفت، خادم، بېنوا، رښتین، حبیبي، رشاد او په راوروسته کې د ډاکټر کبیر ستوري غوندې د پښتنو سر غندویان هیڅکله هم نه ولیدل او نه مو وموندل، چې د پښتنو د سرلښکرو په حیث یې پښتانه وپېژني. ضرور دا دي چې د هر څه نه مخکې پښتانه خپل سرلښکر او ملي زعامت او یا مشرتابه پیدا کړي بیا نو نور کارونه د پښتو ژبې د سرکاري کول، تولې سیاسي، تولنیزې، اقتصادي، کلتوري او فرهنگي چارې پوره، پوره اسانیدای شي.

پښتنو عزیزانو!

راځئ چې اعتراف وکړو چې نن، سبا مونږ خپل واقعي سرلښکر ورک کړی او په ترورېمی کې لا څه چې په ټپه تیاره کې بې هدفه په لوڅو، پوخو روان یو او د دې علت دا دی چې زمونږ ملي او نړیوالو دښمنانو په ټوټو ویشلي یو او اتحاد، ورورگلوي او اتفاق یې راځینې چورلټ په غلا اخیستی دی. که داسې نه وي نو ولې په گرد افغانستان کې د پښتنو ملي او نړیوالو دښمنانو د رنگا رنگ نومونو لاندې پر پښتون توکم یو ستر توپان او یو ستر غوبل پیل کړی دی او په هرو ۲۴ ساعتونو کې په اوسط ډول د (۱۰۰-۷۰) کسانو پورې پښتانه څه په ډله ییزه او څه په انفرادي توگه د مرگ کندې ته راښکل کیږي. آیا مونږ او تاسو دلته د المان په اتحادي جمهوریت په خاصه توگه د کولن په ښار کې کومې مظاهرې، میټنگ او یا اعتصاب ته د هغوی د بې گناه وژنې او هغوی باندې د هر نوع نارو او پر ضد په ملاتړ راوتلي او د اروپايي ټولنې د سیاستمدارانو غوږونو ته مو دپښتون ټبر د بې گناه وژنې، رټنې، گواښنې او نورو رنگا رنگو مظالمو پر ضد د هغوی د میندو خویندو، د کونډو، یتیمانو او یسیرانو چیغې او اوازونه رسولي دي؟ نه هیڅکله هم نه!

آیا په دې باب مو کومه اعلامیه، ابلاغیه او یا حد اقل اعتراضیه پیغامونه صادر کړي دي؟ او یا حد اقل کومه مقاله او یا مضمون مو په دې باب د المان معتبرو اخبارونو ته ورکړی دی؟

آیا د الماني مقاماتو سره مو د پښتون توکم دتاریخي مېړانې، توري او تاریخي ویاړنو په باب کوم تماس ساتلی دی؟

آیا په دې باب مو خپل غږ د المان پارلمان ته رسولی، چې پښتانه هغه توکم دی، چې تل یې د ترورېزم، وحشت، بربریت او د القاعدې د تروریستي باندو او د نورو خرابو

کارونو پر ضد په کلکه مبارزه کړې ده او په دې لاره کې یې بې شمېره قربانۍ ورکړي او همدا اوس اوس هم د دغه وحشي باندونو د سختو گوزارونو سره مخامخ دي؟
آیا کومه مادي او یا معنوي ملاتړ مو د پښتنو د کونډو او یتیمانو څخه څرگند کړی دی؟
آیا د پښتون توکم د اتحاد او وروړگلویز ژوند لپاره مو په مشخصه توگه کوم کنفرانس، سیمینار یا ورکشاپ جوړ کړی دی؟
دا چې تراوسه مونږ هیڅ نه دي کړي او د کولو تکل مو هم نه دی کړی نو باید اعتراف وکړو، چې مونږ د پښتون توکم د ژوند د بقاء،د هغوی د مادي او معنوي ارزښتونو او اړتیاوو د پوره کولو او د پښتنو د فرهنگي او کلتوري غناوو او د فرهنگي میراثونو د ساتلو او د پښتنو د علم، تعلیم او د تحصیل د زمینې د مساعدولو په خاطر مونږ دلته په اروپا کې هیڅ نه دي کړي.
یوازې او یوازې اروانباد ډاکټر کبیر ستوری و چې د کوزې پښتونخوا په دیرو او حجرو وگرځیده، د نشنل عوامي پارټۍ د مسؤلینو سره یې خبرې اترې وکړې او د برې پښتونخوا د پښتنو سره یې خپله خواخوږي ښودله خو دا چې د وخت د رژیمونو سره یې سازگاري نه درلوده نو هغومره چې یې هیله درلوده دی په خپلو سپېڅلو هیلو او ارمانونو کې هم پاتې راغی او ارمانجن یې له دې فاني دنیا سره وداع وکړه. ډاکټر کبیر ستوری هغه سیاستوال او ادیب و، چې په سیمه کې یې د انگلیس د ډېرو خطرناکو توطیئو د بربندولو پر ضد وینا او عمل دواړه یو شان و. ده به ویل چې انگریزانو د پښتنو پر ضد پراخه او بې شمېره دسیسې په کار اچولي دي، چې لومړی توطیئه د پښتنو په یو لادینه او نه څېرېدونکې سینه باندې د یو څیروونکي غشي وارول و او هغه دا چې په ۱۸۹۳ کال کې ستره پښتونخوا د برو پښتنو ورونو او عزیزانو څخه په زوره د جلا کولو هڅه وه خو خوشبختانه چې د دغه غشي وارول هم دومره کار ورنه کړ او پښتون توکم دغه فردي غشو وارول د واحد، یو موټي او سرلوړي افغانستان د ولسونو پر ضد انگلیسي توطیئه وگڼله او پر هغوی یې په هماغه لومړنیو شیبو کې د بطلان کرښه راښکل، نو استعمارگران او د افغانستان خلکو او د خاورې دښمنان چې هر څومره هلې ځلې وکړې دغه او دغې ته ورته تحمیلي کرښې به په پښتون توکم هیڅکله هم ونه مني.
د همدې توطیئ پر ادامه انگلیسانو یوې بلې هڅې ته هم لاس واچاوه ترڅو خپل یو گوډاگی حکومت په سیمه کې په تلپاتي او د ایجنټ په توگه ولري هغه دا و چې محمد

علي جناح يې د هند په ستره قاره کې د يوه انګليس ايجنټ په حيث ومونده، کار يې پرې وکړ، ښه يې وروزه، ښه تعليم يې ورکړ، ښې دسيسې يې وروښودلې او بالاخره پوځي او مالي ملاتړ يې ترې څرګند کړ او په ۱۹۴۷ کال کې د هند د سترې بدنې څخه د پاکستان په نامه يوه خاوره جلاه کړه. ظاهراً دغه کار د يوه ريفرنډم په ترڅ کې ترسره شو. دغه ريفرنډم داسې يو شکل درلود لکه د المان د اتحادي جمهوريت د بن په ښار کې چې يو شمېر پلورل شوي امريکايي او انګليسي غلامان چې په ۲۰۰۱ کال کې په افغانستان کې د طالبي رژيم د رانسکورولو څخه وروسته راوستل شوي و او په اصطلاح د افغانستان د راتلونکي سرنوشت غلطه تيره يې د حلقه بګوشو غلامانو په واسطه کېښوده چې په هېواد کې يوه بله تراژيدي پېل شوه چې دا دی تر ننه پورې دغه تراژيدي روانه ده او ورځ په ورځ افغانستان او افغانان د بربادۍ کندې ته غورځول کېږي او په دې توګه مادي او معنوي شتمنۍ يې د خاورو سره خاورې کېږي.

د پاکستان جوړيدل د محمد علي جناح په واسطه د لرو او برو پښتنو لپاره د زهرو هغه ګوټ و چې قيمت او بيه يې تراوسه د ليکې دواړه غاړې پښتانه، نه شي ادا کولای. دا دی په دسايسو جوړ شوی پاکستان څخه نن سباد امريکا متحده ايالات هم د خپلو ستراتيژيکو ګټو د ترلاسه کولو په خاطر ملاتړ کوي.

پوهانو او سياستوالو ته معلومه ده چې د هېوادونو سياسي ثبات هغه وخت ټکني شوی چې پاکستان جوړ شوی او پښتانه او بلوڅ د هر نوع سياسي روند څخه بې برخې پاتې شوي دي.

په کوزه پښتونخوا کې فخر افغان بابا خان عبدالغفار خان او په بلوچستان کې صمد خان اڅکزی او ځينې نور مشران سياسي مبارزې او د جدوجهد هغه سرغندويان و چې په لسګونو کلونه يې د خدايي خدمتګارانو او سرخپوشانو نهضت د انګليس د استعمار پر ضد په خورا ميړانه او سرلوړۍ سره څه د زندانونو د تورو تمبو تر شا او څه هم د يو عالم ګواښونو، رنځونو او کړاوونو پر مخ بوتلو د تاريخ د شهادت په اتکاء چې ګرده پښتونخوا او بلوچستان د پاکستان د جوړېدو او جعلي ريفراندم کې د انګليسانو د پراخه توطيئې په ترڅ کې د سياسي آزادۍ څخه بې برخې او د تل لپاره محروم پاتې شول.

د عملي توطيئې له هماغه نيتې څخه تر همدا اوسه پورې لره او بره پښتونخوا د يرغلګرانو او ښکېلاکګرانو د راز راز نورو توطيئو سره مخامخ ده، پښتون وژل کيږي، پښتون تړل کيږي، پښتون ګواښل کيږي د دوی په اند پښتون تروريست دی، پښتون

وحشي قوم دی، پښتون بې تعليمه او بې تحصيله قوم دی، پښتون القاعده دی، پښتون دهشت گرد دی، پښتون په سياست نه پوهيږي، پښتون په سولې، دوستۍ او تفاهم کې د چا سره ژوند کولای نه شي، پښتون نړيوالو ميثاقونو او د ملگرو ملتونو پرېکړو ته وفادارنه دی، پښتانه جگړه ماران دي او بالاخره پښتانه دي چې نړيوال امن او نظم يې خراب کړی دی. دااو داسې نور په سلهاو نومونه پرې ايښودل کيږي.

بايد د انگليس او امريکا په گډ سياسي دريځ يو ځل بيا هم ځانونه خبر کړو او هغه دا چې : دغه دواړه استعماري هيوادونه پلان لري چې واحد ، يو موټی او نه تجزيه کيدونکی افغانستان تجزيه او ټوټې ټوټې کړي او د دې کار لپاره يې د انگليس د دفاع او د باندنيو چارو او همدارنگې دا مريکا د دفاع وزير او د بارک اوباما خاص استازی او يو شمېر نور ټاکلي دي چې وخت په وخت يې د ډېرو ناپاکو او کرغېړنو خولو څخه کله د پښتنو او کله کله د افغانستاند تجزيې مسايل راوځي، دوی د افغانستان د تجزيې پټې نقشې هم جوړې کړي او د جمعې اطلاعاتو له لارې نشر ته هم سپارلي دي. د دې څخه برسېره ايران خو لا پخوا په کمين کې ناست و چې په مرکزي افغانستان کې د غرجستان په نامه د يوه جلا هېواد د جوړېدو نقشه وړاندې کړې وه. تاجکان خو لا واخان او پامير د افغانستان د وجود څخه جلا شوې سيمه گڼي. روس بل هغه ستر هيواد دی چې د افغانستان شمال يا د هندوکش د غرونو څخه اخوا ټول شمالي ولايات خپله د نفوذ ساحه کې گڼي، بس يوه ستره سياسي لوبه ده چې د افغانستان د فعلي گوډاگي حکومت په وجود کې د افغانستان د ځمکني تماميت او د خاورې د بشپړتيا دښمنانو په کار اچولې ده. که نن سبا پښتانه سياستوال، سپين ږيري، سپين روبي، ځوانان، پېغلې او بالاخره ښځې او نر په گډه د هېواد په دې تاريخي شيبو کې راپانه ځيږي او د دښمن د کرغېړنو او بې شرمانه اهدافو په مقابل کې يو سرتاسري اوسپنيز ديوال جوړ نه کړي په حکومت او دولت کې ناست وطنفروشان به خامخا د خپل ژوند د بقاء په خاطر د کورنيو او بهرنيو تجزيه طلبانو ناولو او چټلو پلانونو عملي کيدو ته لبيک ووايي. او بيا به وخت له وخته تير وي، گردپښتانه به لاسونه مښخي او څه به په لاس نه ورځي.

راځئ چې په لرو او برو غيرتي پښتنو يو ځل بيا دخپلو ملي او تاريخي مسؤليتونو په پام کې نيولو سره غږ وکړو چې خپلې ټولې انفرادي، ډله ايزې، گوندي، سازماني او تنظيمي گټې شاته پريږدي او د يو صادق، هېوادپال، ملي او سياسي پښتون په حيث په هېواد باندې د رانازل شويو تراژيديو

مخه ونیسي ترڅو دغه ناتارونه او حماسې چې په پښتون توکم باندې تحمیل شوي په پرله پسې توګه پای ته ورسیږي. د جګړې دوام، تروریستي اعمال او ځان مرګي بریدونه کاملاً بهرني پدیدې دي ټینګار پرې کول زمونږ د ملي ستونزو د حل کیلي نه ګڼل کیږي. بناءً په مجموع کې افغانان او په خاص ډول پښتون توکم باید د دغه منفي پدیدو پر ضد په کلکه مبارزه وکړي او دغه منفي او بیخي بې ځایه پردۍ لاره مردوده وګڼي. د بېګانه ګانو په پلان د وطن د ډېرو اصیلو او احساساتي بچیانو وژل او له منځه وړل زمونږ ملي او افغاني ستونزې نه یوازې دا چې حلولای نه شي بلکې بیګانه ګان تصمیم لري چې زمونږ د ځوان قشر یوه ځواکمنه برخه له دې لیارې له منځه یوسي.

تاسو پوهیږئ چې د ۱۳۷۱لمریز کال راهیسې چې د یوې سترې ملي او نړیوالې توطیئې په ترڅ کې تنظیمي مشرانو او تنظیمي ډلو ته واک سپارل شوی دی له همدغې نېټې راهیسې هېواد کې تنظیمي غوبل روان دی. په دغه تنظیمي غوبلونو کې د هېواد ښکلی پایتخت د کابل ښار یا د تمدنونو زانګو وران شو، د هېواد نور ښارونه، کلي او بانډې د واک په سر په جګړه کې له منځه ولاړل، ملي دارایي له یو مخې چور شوه، تورو پنجابیانو ته د هېواد په داخل کې د هر نوع لاسوهنې زمینه مساعده شوه، د استعماري ځواکونو مداخلې دومره ډېرې زیاتې شوې چې د هېواد ملي پوځ یې منحل او هر څه د یوه ایله جاري ملیشایي، ایله جار بچي، وسله وال ځواک په لاس کې کیوتل، د اولس او دولت ترمنځ فاصلې او واټن دومره پراختیا وموندله چې ان خبره د هېواد تجزیې ته ورسیده. که د طالبي رژیم د چارو واګې په لاس کې نه وې کیوتې نو نن سبا به د واحد او یو موټي افغانستان خبره هډو سترګو هم نه وای لیدل شوې.

هیڅ افغان دا فکر نه شو کولای چې په افغانستان کې دې کوم څه د دولت په نامه موجود وي. هر څه د شمالي ټلوالې په لاس کې کېوتل، چې بالاخره دا ناراضه، غیر مطمئنه وضع د دې سبب شوه چې طالباني غورځنګ د بهرنیانو په ملاتړ د پاکستان څخه د سپین بولدک له لارې په هېواد رانازل شو. دغه غورځنګ د هېواد په **۹۵٪** خاوره کې مکمل امنیت قائم کړل او د ملا محمد عمر اخوند د یوه فرمان په ترځ کې یې د کوکنارو کرکیله او د هغې تجارت او قاچاقبري پای ته وروسوله. هېواد د تجزیې د خطر څخه په بشپړ توګه وژغوره خو پنجابي او غربي نفوذ په هېواد کې لا پسې زیات او افغانستان د اسامه بن لادن او د یو شمېر نورو بنسټپالانو د بشپړې بنیادګرۍ او د فنډامنټالیزم په مرکز تبدیل شو. د امر

بالمعروف او نهی عن المنکر اداري يې پولې او بې سرحده واک داری، د هېوادوالو په منځ کې وېره او ترس زيات کړ، ښځې د ابتدايي او سياسي فعاليتونو او د ښوونځيو او پوهنځيو څخه منع کړای شوې او په دې توګه زمونږ کلتوري او فرهنګي ميراثونه او افغاني دودونو او رواجونو ته د نه پاملرنې له امله هر څه په توره دربله تبديل شول.

مګر دی هر څه ته په لوی لاس د پاکستان، ايران، انګليس او د امريکا د متحده ايالاتو د استخباراتي کړيو له لارې سازمان ورکول کېده چې بالاخره دطالبي ژريم د تجريد او له منځه وړلو لپاره يې زمينه مساعده او امريکا کې استعمار د حامد کرزي په مشری، د هغو ۴۳ کسانو خرڅ شويو افغانانو په وجود کې د خپل ښکېلاک او يرغلګر پوځ د راتګ زمينه مساعده او په دې توګه افغانستان د تور استعمار په کرغېړنو منګولو کې کېوت چې دا دی استعماري ناروا مظالم د هېواد په ګوټ ګوټ خصوصاً د پښتنو په سيمو کې تاسو د سر په سترګو ګورئ.

نن، سبا هماغه په امريکا کې روزل شوي ۴۳ کسيزه ډله په دولتي واکمنی باندې رانازل شوي چې عمداً تنظيمي ډلې او مشران يې په سر کې ناست دي اوهو څه چې ورته د هغوی بادارانو هدايت ورکوي هماغسې يې پرته له انحرافه عملي کول غواړي.

د ټولو نه ما ته د خواشينی خبره دا ده چې يو شمېر ځوانان او سياستوال امريکايي اشغال د افغانانو په خير او نفع ګڼي او حتی هېواد او هېوادونو استقلال، آزادی او خپلواکی ته د شک او ترديد په سترګه ګوري د ځينو سره يې استدلال دا دی، چې دافغانانو لپاره دا ښه فرصت دی ترڅو د امريکا د پرمختللي اقتصاد او د سياسي زورواکی څخه بايد افغانان ګټه پورته کړي او ځينې يې بيا په دې عقيده دي چې د ګلوباليزم او ګلوباليشن په پرمختللي عصر کې چې ګردې دنيا ته يې د يوه کوچني کلي حيثيت ورکړی هغوی په اند ښېنه کې دي کوچنی کلي کې اصلاً استقلال او آزادی مفهوم نه شي درلودای. نو د استقلال او آزادی په نامه د خپلو حوزو ځانونو نذرانه کول د نړی د روان سياسي تاريخ سره اړخ نه شي لګولی.

لنډه دا چې افغانستان د تنظيمي مشرانو او د يو شمېر نورو وطن پلورونکو له خوا پلورل شوی دی. په افغانانو خصوصاً په پښتنو به زور، ظلم، تيری، وحشت او بربريت نور هم ورځ په ورځ زياتيږي او که وس يې ورسيږي نو بې له شکه چې پښتانه به له يوې مخې د تېرې چړې څخه تېر کړي.

له دې البته پښتانه دا روان ناورينونه بايد د يوه اصل په حيث ومني او که په سرسري نر

يې ورته وکتل نو بې له شکه چې د ځانونو لپاره به يې ژورې کندې کيندلې وي. يو ځل بيا هم ټينګار غواړم او هغه دا چې هېر مو نه شي، چې د افغانستان په تاريخ کې افغانانو داسې وطن پلورونکي او هېواد پلورونکي ډلې، ټپلې حورا ډېرې ليدلې دي خو په ملت چې کله د استعمارګرانو او متجاوزينو نادودې او ناروا وې زياتې شوې، ملت راپاڅيدلی او د يوه ستر سراسري ملي قيام په ترڅکې يې متجاوزينو او مداخله ګرانو ته د هغو د کورنيو ګوډاګيانو په ګډون غاښ ماتونکي ځوابونه ورکړي دي.

نن، سبا په هېواد کې همدغسې يوه ملي قيام ته اړتياده ترڅو کورني وطن پلورونکي او بهرني متجاوزين په کې يو شان سر وخوځوي په جلا وطنۍ کې د يو شمېر ټولنيزو سازمانونو جوړول او په پای کې د PSDP د ګوند په جوړولو کې د ډاکټر کبير ستوري په فعاله توګه ونډه اخيستل هم په دې مفهوم سره شوي دي چې د لرو او برو پښتنو يووالی تامين او د هغوی د سياسي او مدني حقوقو د اعاده کولو او د پښتنو د کلتوري او فرهنګي ميراثونو په ساتلو کې فعاله ونډه واخلي. په دې کار کې ستوری صيب او د هغه د لارې لارويان ډېر ښه بريالي وو، خورا ښې لاسته راوړنې يې درلودې. په لره او بره پښتونخوا کې يو قوي او ځواکمن غورځنګ روان و خو «و ان يدرککم الموت و لو کنتم فی بروج مشيده» د قراني ارشاداتو پر بناء انسان چې هر څومره په محکمو او قوي کلاګانو کې وي بيا هم مرګ ورځي او د دې فاني دنيا څخه سترګې پټوي. دی هم د څښتن تعالی د دې امر پر بنياد د دنيا سترګې پټې او ځای يې خالي پاتې شو دی چې يو ملي سياسي او په پښتو او پښتونواله مين پښتون و نو ځکه د دواړو خواو پښتنو لخوا په خورا درناوي سره د کونړ په ولايت کې په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو. روح دې ښاد وي.

دی د آزادۍ او خپلواکۍ دلارې يو ستر مبارز پاتې شوی او ان تر مرګه پورې په دې عقيده و چې پښتانه بايد يو شي، پښتانه بايد د يوه غښتلي او پرمختللي فرهنګ څښتنان پاتې شي، پښتانه بايد عصري علوم زده کړي، پښتانه بايدد هر نوع افراط او تفريط پر ضد په کلکه مبارزه وکړي، پښتانه بايد بهترين سياستوال او پرمختللی اقتصاد ولري، پښتانه بايد په ملي، اسلامي او د هېواد پالنې په روحيه وروزل شي. پښتانه بايد ګوډاګيان ونه اوسېږي او هماغسې چې د تاريخ سرلوړی قوم دی بايد تر تله د هېواد په ځلانده تاريخ کې سرلوړی پاتې شي. مونږ د دغه پښتون اروا ښاد د زامنو څخه غواړو چې د خپل پلار ليار ه په کلکه تعقيب کړي ترڅو هر يو په هېواد کې په جلا جلا ستوري تبديل شي.

***

# شهید سیلاب (ساپی) د لوړ تفکر او سپېڅلي احساس شاعر او لیکوال

لیکوال : انجنیر عبدالقادر مسعود

زمونږ په ټولنه کې مدبره او علمي شخصیتونو، لیکوالانو، شاعرانو، او هنري استعدادونو پښتو ژبې، خپلې ټولنې او خلکو ته د خپلې پوهې او طبیعي استعداد پر بنسټ او د قلم له لارې ډېر درانه خدمتونه کړي دي، چې د دوی کارنامې د قدر او ستاینې وړ دي.

شعر ویل د پښتو په ژبه کې د پېړیو پېړیو راهیسې د هغو دودونو او عنعنو څخه دی چې زمونږ شاعرانو او لیکوالانو د خپل قلم او ژبې په مټ د ادبیاتو په تاریخ کې په ډېرو حساسو شیبو کې خپلې ژبې ته او د کولتور او منل شوي دود او دستور د پیاوړتیا په لاره کې داسې ځانګړي کارونه کړي دي، چې هیرېدل یې ناممکنه خبره ده شعر او شاعري لاره اوږده او ستونزمنه ده، ډېرې سترپاوې، پړاوونه او منزلونه لري. شعر د نورو هنرونو ترڅنګ هغه هنر دی، چې شاعران خپله مینه، خپل فکر، خپل خیال، خپل احساس، خپله عاطفه، خپل انساني او ملي پیغام د شعر په ژبه کې خپلو خلکو او خپلې ټولنې ته وړاندې کوي.

شاعران د ټولنو انځورګر دي، چې دوی په خپلو شعري تصویرونو کې د بشري ټولنې حالات او پېښې او د خلکو د وینښولو او پوهولو مختلف اړخونه بیانوي، او د واقعي او انساني ژوند لارې چارې ورپه ګوته کوي.

اروانباد امان الله (ساپی) چې زمونږ د هېواد با استعداده، پیاوړې، ساده او سپېڅلی او نامتو شاعر و. د ده نوم د ادبیاتو په تاریخ کې د یو ممتاز او با احساسه شاعر په توګه روښانه او ځلېدونکی دی. دی د یو عالي ادبي، ملي او علمي شخصیت څښتن و، او د شعر او شاعرۍ بیرغ یې اوچت ساتلی و.

سیلاب صیب د شعر او شاعرۍ سره یوه ځانګړې مینه او علاقه درلوده او د ده د ژوند

دايمي مصروفيت و. دی يو ستر ولسي شاعر و. د ده شعري كلام يوه خوږه ژبه لري، د ده خبرې د زړه خبرې دي. د ده په كلام كې دوستي، عشق او محبت، مينه او خلوص، وفا او صميميت، رښتيا او صداقت، ايمان او عقيده، جذابيت او ښايست، دروندوالی او وقار پروت دی. د ده په شعرونو كې سوز او درد پروت دی، دی د يو ژور اغيز او درون تاثير خاوند دی. دا وتلی شاعر د خدای بخښلي وكيل صيب شهيد نصر الله خان ساپي زوی او د مرحوم مفتی عبدالغفور خان لمسی دی.

دی په (۱۳۱۲) هجري شمسي كال كې د ننگرهار ولايت د كامې ولسوالۍ په (غازي كلي) كې زيږيدلی دی.

لومړنۍ زده كړې يې د كامې د اخوند كلي په ښوونځي كې په (۱۳۲۵) لمريز كال كې په بري سرته رسولي دي. بيا وروسته ده شپږ كاله په خصوصي توگه د علمي او ادبي آثارو په لوستلو ځان مشغول كړی و. ده په دغو كلونو كې ډېر كتابونه مطالعه كړي دي. كه چيرې د ده شعرونه او نثرونه وڅېړل شي نو دا ځرگنديږي، چې دی د مروجو علومو لكه د فقهي اصول، تفسير، حديث، صرف، نحو، بديع، بيان، عروض، قافيه، منطق، حكمت او داسې نورو علومو سره بلد و، او خپل بنسټيز مالومات يې په دې هكله تكميل كړي و.

هغه سرشاره استعداد چې خدای پاک ده ته ورپه نصيب كړی و، دی په (۱۳۳۱) هجري شمسي كال كې د كابل د قاضيانو مدرسې په دوهم ټولگي كې شامل شو او بيا له دريم ټولگي نه د كابل عربي دارالعلوم نهم ټولگي ته ولاړ، او هلته يې خپله زده كړه په عالي كچه پای ته ورسوله. ده وروسته له زده كړې د هېواد په دولتي ادارو كې په كار پيل وكړ. دی د عدليې په وزارت، د ترانسپورت په رياست، د قبايلو مستقل رياست او په راديو افغانستان كې په دندې بوخت و.

د سيلاب صيب خواږه شعرونه د ده د سپيڅلي زړه غږ دی. ده په شاعرۍ كې يو ځپاند او سرشاره استعداد درلود، خو د ده خدايي استعداد په هغو كلونو كې چې په راډيو افغانستان كې يې كار كاوه نور هم ځپې ووهلې، او د زياتې پوهې خاوند شو، او د وطن په فرهنگي حلقو كې د يو وتلي او نامتو شاعر په حيث وپېژندل شو. د ده كار په راډيو افغانستان كې ده ته دا چانس ورپه برخه كړ، چې دی دلويو ادبي او فرهنگي شخصيتونو سره معرفي شي. ده په راډيو كې په ادبي پروگرامونو كې برخه اخيسته، او د ده خوږې ترانې د يو شمېر ناتو او تكړه هنرمندانو او سندرغاړو په خوږو اوازونو كې خپريدلې. په راډيو افغانستان كې د ده كار د هغه د ادبي او فرهنگي شيرې د پېژندگلوۍ او شهرت لپاره نه يوازې په كابل كې، بلكې د هېواد په نورو

سیمو کې او په بهرنیو ادبي او فرهنګي ټولنو کې زیاته مرسته وکړه.

سیلاب صیب خپل شعرونه زیاتره د موسیقۍ په طرزونو کې ویل او جوړول، او ده د هر چا په ذوق او علاقه او د هنرمندانو په غږ برابر شعرونه لیکلي دي، همدا وجه ده چې زموږ زیاتره هنرمندانو د خپل په زړه پورې او ښکلي اوازونو په وسیله وخت په وخت د سیلاب صاحب شعرونه، سندرې او ترانې د ساز په څپو کې خپلو مینه والو ته په ډېرو ښکلو کمپوزونو او طرزونو کې رسول. تر هغه ځایه پورې چې څرګنده ده زموږ هنرمندانو او سندرغاړ د سیلاب صاحب د پنځو سوو (۵۰۰) په شاوخوا کې شعرونه په خپلو غږونو کې ثبت او خپاره کړي دي.

ښاغلی (نصر الله حافظ) چې د سیلاب صاحب ډېر نږدې ملګری او دوست و، او زموږ د هېواد یو خوږ ژبی او نامتو ادیب او شاعر دی په خپله یوه لیکنه کې داسې وایي:

د سیلاب صاحب بعضې شعرونه نړیوال شهرت ترلاسه کړی دی، د مثال په توګه:

ستا د سترګو بلا واخلم بیا دې سترګې ولې سرې دي
پام چې وار دې خطا نه شي ما منلې غرغرې دي

دا شعر د لومړي ځل لپاره د کابل راډیو په پخواني استدیو کې چې په باغ عمومي کې وه د هېواد نامتو هنرمند او منلي شوي او پېژندل شوي سندرغاړي اولمیر په خواږه آواز کې ثبت شو چې رباب ورسره محمد عمر د رباب نومیالي غږاوه. کله چې دا غزل د راډیو په څپو کې خپور شو، نو په اوریدونکو کې یې یو عجیبه زوږ شور او مستي راوپاروله.

په رښتیا سره هم چې دا سندره د استاد اولمیر لکه د ده د نورو سندرو په شان په ډېر ښکلي طرز او ښایسته کمپوز کې جوړه شوې ده، او په کوم سوز او ګداز کې چې دا سندره استاد اولمیر ویلې ده نو زه فکر کوم چې نور هنرمندان یې په دا ډول ونشي ویلی.

استاد اولمیر واقعاً خپلې سندرې په ډېر عالي طرزونو او ښکلي غږ کې ویلي دي، ده د سیلاب صاحب نور شعرونه هم د موسیقۍ په پردو کې غږولي دي. د بېلګې په توګه د سیلاب صاحب دا شعرونه:

سوز د مینې مې قلم راپاروي
ولولې مې دم په دم راپاروي

×××

چېرته ته وای هلته زه وای
د زړه سره ما ته ګرانه

×××

نن بیا زړه سوز د مینې پارولی غوندې دی
قلم یې په سرو سترګو ژړولی غوندې دی

×××

د سیند په غاړه --- شوه راپه غاړه
په ناز یې وویې --- بس دې مه ژاړه

×××

..... ګوګل کې د مینې

×××

د چا په څنو په اوربل خوښه ده
زما شرينه پـه محـل خـوښه ده

×××

..........

بيا چې پــه گوگل کې په ژړا

×××

او داسې نور شعرونه او سندرې:

سيلاب صـاحب د زړه لـه کـومې پـه خپلـو شعرونو کې د قوم او هېواد د بيدارۍ، ترقۍ، پښـتون او پښـتونوالي، آزادۍ او خپلـواکۍ لوړ غږ او آواز پورتـه کړی دی، او پـه دې لاره کې دې د خپـل مـال او عيـال څخه تيرېږي. زه هيله مند يم چې له دې قومي، ولسي، ملي او اجتماعي شعرونو او سندرو نه زمونږ اوسني او راتلونکي نسلونه د عبرت پند واخلي. د ده خواږه او پـه زړه پـوري شعرونه، ملي سندرې او وطني ترانې په لره او بـره پښـتونخوا کې د تل لپاره ژوندۍ پاتې شوي دي.

سيلاب صاحب د آزادۍ او خپلواکۍ، شرافت او حيثيـت او د يـو خپلواکـه ژونـد عـزت او د قلم فضيلت په ډېره ميړانه او قربانۍ د خپـل د ژوند تر پايه پورې وساته.

ښاغلي نصر الله حافظ په خپله يوه ليکنه کې وايي چې يوه ورځ سيلاب صاحب ما تـه وويـل چې ما خپل قلم ته يو شعر ليکلی دی. ما ورتـه وويـل ژر شـه د قلـم شعـر راتـه ولولـه. سـيلاب صاحب چې ډېر شـه د کلمـاتورو پـه خپـل خوږ غـږ يې د قلم شعر ولوسته، چې د دغې شعر دوه بيته داسې دي:

قلمه! ښکل به دې کړم
نوم د جانان ليکه
وليکه مرور آشنا ته، ټول زيات و کم د آشنا
که زما ليکې ورته څيرې گريوان وليکه

د سـيلاب صـاحب پـه شعرونو کـې د ځـوانـانو بيـدارول، پوهـول، د هېـواد سمسـورتيا او پراختيـا او د هوسـا او آزاد ژونـد هڅـول نغښتې دي. دا د ده ارمان وه، چې ملي فکر او د آزادۍ مفکوره او د خـاورې پـت او عـزت د خپلو وطنوالو په ذهنونو کې راوپاروي.

سيلاب صـاحب ادبـي نثرونـو تـه هـم پـاملرنـه کـړې ده. خـواږه او سـليس نثرونـه يـې ليکلـي دي. لنـډې کيسـې يـې هـم ليکلـي دي، او يـو شمېر يې له نورو ژوبو څخه ژباړلي دي.

د سيلاب صاحب شعري مجموعـه وروسته لـه ده لـه مړينـې څخـه پـه کابـل کـې د ليکوالـو انجمـن لـه خـوا چـاپ شـوه او نـورې شـعري مجموعې يې په قلمي توگه د ده د فرهنگي او ادبي ملگرو او يـارانو سره پـاتې دي. دا هيلـه شــته دی، چــې د ده زوی ښــاغلی الله نــور سيلاب چې يـو تکـړه او بـا استعداده ادبـي څېره ده وکـړای شـي د دغـو مجمـوعې پـه راټولولو د سيلاب صاحب نوې شعري ټولگه چاپ او د مينه والـو پـه اختيـار کې کېښـودل شي.

سـيلاب صــاحب يــو رښــتينی مســلمان ا و متــدين انســان و، دی د تقـوا او پرهيزگـارۍ

درونـد شخصيت و. ده لـه خداى پـاک سره، د وطـن سره، انسـان سره، انسـانيت او انسـاني کرامت سره سپيڅلې مينه او محبت درلـود. دى يـو ميلمـه پـال او پـه پښـتو او پښـتونوالي کـې کلـک او ټينـګ انسـان و. دى يـو ځـوان شـاعر و، شـاعري يـې ځوانـه وه، احسـاس يـې ځـوان و، ده کـولاى شـول نـور هـم د پښـتو د ادبيـاتو د ودې لپـاره ډېر ستر قدمونـه اوچت کړي واى.

سيلاب صاحب يو پـاک سپيڅلى انسان و. ده لـه خپـل هېـواد او وطنوالـو سره او د هېـواد د خپلـواکۍ او آزادۍ سـره يـوه ځـانګړې مينـه لرلـه، ده د پـردو غلامـي نـه منلـه، يـو آزاده او خپلواکه ژوند تـه معتقد و. همدا وجه وه چې دى په **۱۳۵۷** هجري شمري کال کې د وخت د حاکمـانو لـه خوا ونيـول شو او د دهمزنـګ پـه محـبس کـې بنـدي شـو، او وروسـته د ځينـو وحشي قاتلانو له خوا په شهادت ورسيد. دى نه يوازې چې شهيد او ځوانيمرګ شو بلکې د ده شـاعري يـې هـم ځوانيمرګـه کـړه، او دى لـه دې دنيـا ځـخـه ارمـانجن ولاړو، او د هېـواد ادبـي او فرهنګـي ټولنـه يـې د يـوه ځپانـد او تکړه شاعر او له ادبي او فرهنګي نعمتونو نـه بې برخې کړه.

د ده مړينـه زمـونږ د وطـن د ادبيـاتو پـه تـاريخ کې يوه لويه او نـه جبيره کيدوکې ضـايعه ده، چې د ادب او فرهنګ مينه وال به يې هيڅکله هير نه کړي.

خو ه باور لرم، چې زمونږ د پښـتو ادبيـاتو پـه غېږ کې به د ده نوم تل پاتې وي او تاريخ به تل په داسې اتل ميړني ويـاړي. دى بـه د تـل لپـاره پـه خپلو بـا ارزښته ليکنو کې ژوندى پـاتې وي او د ادب او فرهنـګ علاقمنـدان بـه د ده پـه خوږو او تودو شعرونو او نثرونو خپلې ذوقي تندې ماته وي.

# غزل

**معروف عابد**

څـه حـالات او څـه وختونـه داسـې وي
څـه نـازک نـازک خيالونـه داسـې وي
داروګـانې د طبيـب پـرې اثـر نـه کـا
ځنـې ځنـې پرهارونـه داسـې وي
تـش پـه يـو نظـر زړګـى سـرې نـه يوسـي
تـورې زلفـې ولونـه ولونـه داسـې وي
تـه بـه ناسـت يـې دا بـه بـل سره خنـديږي
د پـې مخـو عادتونـه داسـې وي
کلـه کلـه روغ سـړى سـم ليـونى کـړي
د ښايسـته آشـنا غمونـه داسـې وي
له مجبورۍ ئې شاعر په شعر کښې ځاى کړي
څـه قافيـه څـۀ رديفونـه داسـې وي
هميشـه د ازغـو څوکـو کښـې خنـديږي
عابـد جانـه سـره ګلونـه داسـې وي

عارف همدرد ساپی

# لپــــــه



راځئ، چې لاسونه الله تعالی ته لپه کړو او د دې هېواد د سولې او امن غوښتونکي شو؛ ځکه د ژوندانه راز او مینه له سولې سره تړلې ده.

که مونږ له سولې برخمن شو او آرامه ژوند ولرو؛ له خپلې سرلوړۍ به هم ډاډمن شو.

هو! مونږ ژمنه کوو، چې د سولې کوترې به نه وژنو؛ د هېواد د امن، سرلوړۍ، ملي یوالي او ملي ګټو لپاره به کارکوو.

سوله، آبادي او ښکلا نه یوازې هرافغان ته د رڼا، سپېڅلتیا او سوکالۍ زیری لري، بلکې د ملي پیدا ښت ویاړ هم ور سره پالي، خو که له ځان بېګانه خلك مو د خپل ویاړلي تاریخ مشران او کشران د ملي مقدساتو (پت، خپلواکۍ او دین) په هېنداره کې وګوري.

راځئ، چې د بې تفاوته او بې کفایته ټولنیزو رنځورانو درملنه وکړو؛ ملي وحدت ته یې ژمن کړو او افغان ملي بیرغ ورو پېژنو.

راځئ چې وحشت، کرکه، ورور وژنه، وینه تویونه، لوټ ماري، د هېواد د ملي شتمنیو زیان رسونې ته د پای ټکی کیدواو د سوله ییزعلم لار خپله کړو.

راځئ، چې ځان پوه او نورجاهل و نه ګڼو؛ ټوپک د قلم او قلم د توپك له وېرې ونه رټو.

هوکې! له ما سره لاسونه لپه کړئ او ټول دا دعا وکړئ، چې:

ای پاکه ربه!

دا دردیدلی او ځوریدلی ملت پخپل رحم و کرم له بې باورۍ، جنګ، وحشت، کرکې او ملي نفاق وژغوره!

یا الله!

په اسلامي نظام او سمسورافغانستان کې هربچی د خپل پلارپه مینه مست کړې، چې د نیکه لارښوونې ومني.

د هېواد او افغانانو د روزنې، پالنې او سرلوړۍ په هیله.

***

ليکوال : محمد داؤد صديقي يوسفزی



## لنډه کيسه

# نيمګړی ارمان

شيرباز کاکا زمونږ د کلي هغه څوک دی، چې خپله پلرنۍ هستي او جايداد يې په څلورو پرله پسې ودونو په نشست حساب کړی دی. تل به يې دا خبره په خوله وه، چې مال د خدای (ج) دی يـوولس هلکـان لـرم. د ده لـه مرګـه وروسته يې خوارکي زامن د يوې مړۍ ډوډۍ پسې ورک لوغړن وو. منځنی زوی يې هستي ګل چې په لره پښتونخوا د خيبر ايالت په يوه ليرې پرته ولسوالۍ کې د چرګانو په يوه فارم کې مزدور شو. ښوونځی ترې هم نيمګړی پاتې شـو. د وخـت پـه تېرېـدو سـره د هسـتي ګـل صـداقت او هوښـياری دا څرګنـده کـړه چـې د فـارم مسـؤل ډاکټـر ورتـه د نـورو مزدورانـو پـه نسـبت د دې مسـؤليت جـدا کـړ او د لـومړني صحي کارکوونکي په توګه يې د نوموړي سره دوه درې ځايه نور هم په فارمونو کې مسؤليت درلود او کار به يې کاوه. يو څه يې اقتصادي وضعه ښـه شوه هغـه د چا خبره د مړي ژوندي لپـاره بـه چـا تـه نـه محتاجـه کيـده. خو ليونۍ مينې وربانديې داسې څادر وغوړاوه چې هيڅ د خلاصـون چـاره يـې تـرې نـه وه. روزګـار يـې هم ټکنـی شـو. د برکلـي د خـان د سـکنۍ خـورزې سره يې د مکتب تـه د تلو پـه مهـال يـو څـه د مينې خبرې شروع شوې. غزالې هم هيڅوک نه درلودل خو ماما يې د جايداد او مال د خپلولو لپـاره پخپـل کـور کـې د يـوې بـې واکـه او بـې څوکه پېغلې په نظر ورته کتل. د دې او د بندي دا تـوپير وو چـې فقـط د مکتـب اجـازه يـې درلوده چې لاړه شي او بس. په همدې توګه به خـان ورتـه کلـه کلـه دا خبـره هـم غبرګولـه چې کوچني احمد ته به خپل تور وينبتان سپينوی هغـه تـه دې کينـوم. د بلـه پلـوه دا هـم هوښـياره جينـۍ وه دا بـه يـې پـه زړه کـې ګرځيـدل چـې د خان ماما د کوره د هندو کور هم ښه دی.

هستي ګل خو آخر پښتون دی او افغان هم دی. بدې ورځې ته خو به مې نه ورکوي. د شپې لـه پلوه يې د ځان سره دا پرېکړه وکړه سبا تـه کـه خير وو دواړه د يو نامعلوم لوري پـه طرف ځو. شـپه تېـره شـوه د مکتـب پـه مهـال دواړه د يـوه نوي سفر په لور وکوچيدل. خو غزالې يوه تـوره کړې وه چې خپله قيمتي طلا يې هم د ځان سره راخيسـتې وه. د دوه ورځـې سفر او سرګردانۍ

وروسته د پنجاب ايالت په يوه ليرې ميشته سيمه کې د يوه افغان سپين ږيري ميرگل کاکا په کور کې پناه واخيسته. سپين ږيری هم په دې سيمه کې د برش کلن استوګن وو. ښه راشه درشه يې درلوده هغه د کوم سرې خبره ښه خوله ور سره و. هستي گل ورته خپله کيسه د ابتداء څخه تر انتها پورې وکړه خپل د سر په خوځولو يې وويل پوه شوم. په لومړي قدم کې يې د خپل جومات د خطيب سره پخپل کور کې د نکاح د تړلو مراسم پرځای کړل. د دې اسلامي رکن د پرځای کولو وروسته د پښتنو د عرف سره سم هستي گل ته د کار په لټه کې شو تر څو يو ښه روزګار ورته پيدا کړي. ورځ لا تېره نه وه چې ميلمه په کار ولگيد. د ورځې به يې دومره څه کول چې د بل د محتاجۍ څخه خلاص وو. دوه مياشتې په همدې ترتيب تيرې شوې او د دريمې مياشتې په لومړنۍ اونۍ کې څو ناپېژاندي کسان د خپل شخصي موټر ترڅنگ د ميرگل د کور دروازې ته ولاړ وو او دا خبره يې کوله چې مونږ د هستي گل ورونه يو او د ځان سره يې بوځو د خان کاکا سره مو روغه جوړه وکړه. د هستي گل چې په د کاکا زامنو سترگې ولگيدې زړه يې ټک وکړ چې څه لوبه خو به يې جوړه کړې وي... د روغبړ د مخه ورته وايي هله ژر شه يار چې د خيره ځو د وعدې خلاف ونه شي. خان ته او جرگې ته مو د دوه پيسو نه کړي. هستي گل د تگ ورسره نه منله. مير گل کاکا هم د وخت او جرگو سړی و. په دې هکله يې بشپړه تجربه درلوده. د تگ اجازه هغه هم نه ورکوله. غزاله خو په ژوند کې هم دا خبره ورسره نه مني. او دا ورته وايي زه مې قاتل او مکرجن ماما ښه پېژنم. احمد ته د ورکړې خبره مې ښه په ياد ده. زماد پلار او نيکه د ځمکو اسناد يې وخته په خپل نوم کړي دي. زه يې په مړو شمېرلې يمه. هيڅکله زه بېرته د دوی مخ ته نه گورم خو بيا هم کيده کيده لنډه دا چې د ډېر سرخوږي وروسته دوی يې تگ ته تيار کړل. د شملې د ښکته کولو، د کلي کور او غيرت خبرې يې ټولې ورته مخې ته کړې. د دومره خبرو او بحث وروسته ميرگل کاکا هم د تگ مشوره ورکړه. کله چې دی پاک نيتو عاشقانو له دوی سره د تگ فيصله وکړه د ميرگل په کور کې يوه ژړا او غوغا جوړه شوه او دوی ترې په ډېر ادب رخصت شو. خو په دې د خوارانو سر لا نه دی خلاص شوی، چې د کاکا زامنو يې د دوی په سر د خان سره د اته لکه پاکستانۍ کلدارو سودا کړې ده. کله چې اصلي ځای ته رسيږي گوري چې ورونه يې په ژوند له هغه ځايه ورک شوي دي او کومې بلې سيمې ته کډه شوي دي. دوی دواړه په روغ لاس بنديان شول. يو د بل له حاله نه دي خبر. هستي گل پخپله د خان لخوا د حکومت په کور (تاڼه) کې دومره ووهل شو چې په نږدې د محبس په روغتون کې بې هوشه او تر ډېره د کوما په حالت کې وو. پس د يوې اونۍ چې د قاضي پر وړاندې ودرول شو نو غزاله په بيا

بیا دا اقرار کوي چې زما په تګ کې زما خپل هستي ګل پړ نه دی ما مجبور کړی دی. زه په اسلام او قانون کې دا حق ګڼم چې دا زما خاوند دی. ما ته اسلامي شریعت او قانون دا حق راکړی دی. خو بې غوروو او بې سترګو محکمه نه اسلامي اساسات مني او نه انساني کرامت ته درناوی لري. د هستي ګل او غزالې موضوع په مطبوعاتو او رسنیو کې یوه مهمه ډنډوره جوړه شوه. خو معلومه نه ده چې په راتلونکي کې به محکمه دوی ته څه حکم اوروي. لس ورځې وروسته کله چې بیا د دوی محکمې ته د احضار ورځ شوه هستي ګل په شل کاله بند محکوم شو. خو د غزالې برخلیک تراوسه ناڅرګند دی. هستي ګل چې نه زر لري او نه زور لري د خدای (ج) اسرې ته د زندان د تورو دروازو تر شا په دې هیله شپې ورځې تېروي چې څه به کیږي خو غزالې ته یې اندېښنه ورځ تر بلې زیاتیږي. د یکشنبې د ورځې رخصتي تېره شوه سبا سهار لس بجې دي. اخبار پلورونکي په لوړ آواز د تازه خبر چیغې وهي. هستي ګل داسې ورمنډه کړه لکه د اوبو ښه ډېر تږی چې اوبه ووینې. اخبار یې راونیو د یو څه خاموشۍ وروسته یې د آخ. آخ بې اختیاره چیغه له خولې ووته. دوه درې قدمه په شا لاړ او دیوال ته یې تکیه ووهله. د تندي خولې یې په خپل ژیړبخن دسمال وچې کړې. د ژړا سره سمه یې دا خبره غبرګوله چې ستا د مرګ غږ په ما د توپ ډز شو. زندانیانو پرې سمدستي یخې اوبه واچولې لږه شیبه پس یې د ګوتې په اشارې اخبار ته سر وخوځاوه چې دا غمجن او دردونکی خبر په کې یاد شوی و. یوه ورځ د مخه معصومې او بې ګناه غزالې د خپل قاتل ماما په لاس د تل لپاره دا نړۍ پرېښوده... سره له دې خان د هستي ګل په شل کلن بند خوښ نه و. د نوموړي د اشد مجازات لپاره یې هم یوځای او بل ځای د پیسو د ورکړې وعدې کړې وې. خو خبره په ډېره حیرانونکي ډول داسې نه شوه. د زندان د تورو دروازو تر شا په داخل کې د هستي ګل په وړاندې په ډېر مؤدبانه ډول یوه ښکلې او حسینه پېغلې اجازه غواړي او وروسته خپل ځان په دې ټکو ورته معرفي کوي. ورور جانه! زه یاسمین بنګش د بشر د حقوقو مدافع وکیله ستاسو او د غزالې د زړه دردیدلې پېښې څخه په خبریدو دا خبله ایماني او بشري دنده بولم چې تا ته له دې تکلیفه په ډېر کم وخت کې نجات درکړم. هستي ګل خوارکي نور څه درلودل خو الهي دربارته یې په ژړغوني لهجه خپل لاسونه لپه کړل دوعاګانې یې ښې ډېرې وکړې او مننه ترې هم. لنډه دا چې هستي ګل په درې اونیو کې دننه دننه له بنده خلاص شو خو د خان او بنګش چې کومه زړه دښمني وه هغه د هستي ګل په خلاصیدو یو ځل بیا راژوندۍ شوه. خپل زاړه انتقامونه یې ترې واخیستل او خان په دعوو او لانجو کې د خپل شته مال حال څخه لاس په سر شو.

# د خاص کونړ د ليسې د مدير سره مرکه

مرکه کوونکی سميع الله خاکسار

ستوری مجلې ګرانو لوستونکو دا ځل مو د خاص کونړ د عالي ليسې له مدير صاحب حاجي عبدالغني خان سره مرکه کړې هيله ده ستاسې د پاملرنې وړ وګرځي.



پوښتنه : محترم مدير صاحب تر هر څه لومړی د ستوري مجلې ګرانو لوستونکو ته ځان معرفي کړئ خوښ به شو.

ځواب : مننه - زما نوم عبدالغني خان په ۱۳۲۷هـ،ش کال د خاص کونړ د ولسوالۍ د باندې په کلي کې زيږيدلی يم.

پوښتنه : که د خپل زده کړې په اړه معلومات راکړئ خوښ به شو.

ځواب : ابتدايي زده کړې مې د خاص کونړ په ابتدئيه ښوونځي کې سرته رسولي او متوسطه دوره مې د څوکۍ د جمعيت په ليسه کې ترسره کړې. او درحمان بابا د ليسې څخه فارغ شوی او د خاص کونړ د عالي دارالمعلمين د اجتماعي علومو څانګې څخه ۱۲۳۹۰هـ،ش کال فارغ شوی يم.



پوښتنه : څومره وخت کيږي چې د خاص کونړ د ليسې د مدير په صفت مقرر شوي یاست او تراوسه دپوهنې په ډګر کې څه بدلون وينئ؟

ځواب : زه په ۱۳۸۳ هجري شمي کال کې د خاص کونړ په ليسه کې د مدير په صفت مقرر شوی يم فقط د مکاتبو په زياتوالي کې بدلون وينم او د مکاتبو لپاره لابراتوارونو جوړول او د کتابخانو جوړول زه غواړم د ښوونکي سويه د سيمينارونو په ذريعه لوړه شي.

پوښتنه : د خپل پرسونل تعمير تدريسي خونو او نورو سهولتونو په اړه درنو لوستونکو ته معلومات ورکړئ مهرباني به وي.

ځواب : د خاص کونړ په ليسه ۵۸ تنه ښوونکي، ۳ تنه مامورين او ۱۱ تنه اجيران دي او اوس مهال يو تن خدمتي ښوونکی هم لري. ۲۸ تدريسي خونې په درې تعميرونو کې موجود دي. له دې څخه ۱۵ اداري خونې لري، چې درې خونې مديريت معارف نيولي، يوه دارالمعلمين استاذانو نيولي، يوه لابراتوار او يوه کتابخانه، درې د دې ليسې اداري موجودي دي خلاصه دا چې زمونږ په ښوونځي کې ۱۲ صنفونه بهر ناست دي چې سرپناه نه لري.

پوښتنه : اوس مهال د شاگردانو تعداد څومره دی او سږ کال څومره فارغان لرئ؟

ځواب : اوس مهال مو د شاگردانو شمېر ۱۸۰۷ کسه دي او ۱۴۸ تنه فارغان او په سږ کال کې.

پوښتنه : ستاسې د تعليمي اداري زده کوونکي کومو تحصيلي پوستونو ته تراوسه تللي او سږ کال څومره زده کوونکي په کانکور کې کامياب شوي دي.

ځواب : په روان کال کې ۵ تنه هند، ۵ تنه پاکستان، ۲ تنه مصر ته کامياب شوي او په دې کال ۱۱۹ تنو زده کوونکو د کانکور ثبتنام کړی چې ۸۳ تنه پوهنځي ته بريالي شوي او ۲۲ تنه عالي دارالمعلمين ته بريالي شوي.

پوښتنه : په خپله اداره کې څه ستونزې لرئ؟

ځواب : دا چې زمونږ درې تعميرونه دي هغه يو احاطه نه لري، چې کنترول يې گران دي. د اطاقونو نشتوالی د غونډو لپاره کوم سالون هم نلرو او د ورزيد استادانو نه موجوديت هم لويه ستونزه ده.

پوښتنه : د خپل تدريسي پرسونل په باب څه نظر لرئ. غواړئ چې بدلون په کې راولئ او کنه؟

ځواب : دا چې مونږ ۵۰ تنه ښوونکي لرو په دې کې به خامخا فعال او غير فعال شته بايد تغير په کې راشي په راتلونکي تعليمي کال کې پلان لرو چې تغير په کې راولو.



پوښتنه : تراوسه مو غږ د کومې رسنۍ له لارې د چارواکو غوږ ته رسولی دی که نه؟

ځواب : هو د کونړ ملي راډيو له لارې مو د چارواکو غوږ ته رسولی.

پوښتنه : په آخر کې خپلو شاگردانو او درنو لوستونکو ته څه پيغام لرئ؟

ځواب : زما پيغام درنو لوستونکو او په خاص ډول شاگردانو ته چې خپل وخت عبث تېر نه کړي خپلو درسونو کې کوشش وکړي. د ښوونځي څخه په يو او بل نوم پاتې نه شي او ميندو او پلرونو ته مې دا پيغام دی چې خپل بچی بې ځايه پرېنږدي او د هغوی سره په درسونو کې د حد نه زيات کوشش وکړي. او د ميندو او پلرونو څخه مې په جدي ډول دا هيله ده چې د خپلو زامنو په باره کې زمونږ د اداري سره خامخا په تماس شي.

د ستوري مجله په آخر کې ستاسې څخه مننه کوي، چې خپل قيمتي وخت مو راله راکړ.

ستاسو څخه هم مننه چې مونږ له مو وخت راکړ.

والسلام

شریف الله شریفي یوسفزی
د کونړ ولایت د سید جمال الدین افغاني پوهنتون
د شرعیاتو پوهنځي د دوهم صنف محصل




قانون د یوې ټولنې د ملا د تیر حیثیت لري او په هره ټولنه کې، چې قانون نه وي هغه ټولنه په بې نظمۍ او نارامۍ باندې بدلیږي او هغه ټولنه چې غواړي هوسا او ارام ژوند ترسره کړي نو حتماً باید په قانون ځان پوهه او په ځان یې عملي کړي.

د قانون نه ځان نه خبرول جرم دی. لومړي ځل لپاره چې قانون په دنیا کې منځته راغی هغه وو چې کله الله جل جلاله حضرت آدم علیه السلام ځمکې ته خلیفه راولیږه نو هغه ته یې لس صحیفې ورکړې. همدغه لس صحیفې د هغه وخت قانون چې د الله (ج) له خوا دا نساني ټولنې پرمختګ نظم او ډسپلن لپاره راولیږه نو د حضرت آدم (ع) نه وروسته د ټولنې افراد د یوې ورځې نه بلې ورځې ته زیاتیده نو همدا علت وو چې مختلفې قبیلې او قومونه او حتی د دولتونو د ایجاد سبب شو. نو بیا د هرې یوې قبیلې او یا دولت د خپل ځان لپاره لکه چې څرنګه چې د یوه ټولنه په مخ بوځي نو د یو قانون تګ لاره باید وټاکي نو له دغه جملې څخه زه غواړم چې په مختصر ډول یې یادونه وکړم، چې د دغه قانون څخه ځیني قانون په اروپا کې منځته راغله چې مونږه یې د محورابي قانون څخه یادونه کوو چې په ۲۳۰۰ قومه په بابل کې وضعه شوی، چې دغه قانون په ۱۹۰۸ کال کې په فرانسه کې منځته راغی، چې د یونانیانو د قوانینو څخه عبارت دي نو همدا رنګه هم په روم کې د رومیانو په نوم یادیږي نو پته

دې نه وي چې هر ملک او هره ټولنه مختلف قوانين لري.

نو د قانون لغوي معنى په اړه د علماؤ مختلفې نظريې دي ځينې وايي چې قانون يو عربي کلمه ده، چې د مقياس معنى ورکوي ځينې نور علماء وايي چې دا يوه يوناني کلمه ده، چې Canon يا د Conon اخستل شوې ده، چې دغه کلمه د کينا د يو کتاب څخه اخستل شوې ده، چې دا هم د مقياس او اندازه کولو ته وايي ځوځينې وايي چې دا يو فارسي کلمه ده چې په انګلش کې ورته Law د کلمې سره مترادفه ده نو په هر حال داسې ويلي شو، چې قانون په لغات کې د مقياس يا اندازه کولو په معنى دى او په اصطلاح کې د يو لړ قواعد او مقررات دي، چې د قدرت لرونکي مقام له د ټولنې د نظم لپاره وضع کيږي او الزامي جنبه لري نو داسې وايو، چې په ټولنه کې بې له قانونه ژوند ناشونى دى.

ابو علي سينا بلخي وايي چې په ټولنه کې ژوند په غير د رواجونو څخه ناممکن دى نو وايو چې د ټولنې هر فرد بايد په قانون پوهه وي او قانون په ځان حتمي او ضروري عملي کړي او که چېرته د يوې ټولنې هر فرد د قانون نه خبر شو او په ځان يې قانون عملي کړه نو هيڅکله به دا ټولنه د بدبختۍ سره نه مخامخ کيږي. د تل لپاره به دا ټولنه د ترقۍ او پرمختګ په لور ځي.

# غزل

صاحبزاده (خان آغاز) اختيار

زما يو يار و خدايه تا واخيسته
ډېر وفادار و خدايه تا واخيسته
زه تربورانو ته يوازې شومه
زما دلدار و خدايه تا واخيسته
زما ساتنه ته پخپله وکړه
زما نګار و خدايه تا واخيسته
اوس به د زړه رازونه چا ته وايم
زما قرار و خدايه تا واخيسته
تصوير يې مخ ته، مخ ته کيږي زما
ها، يو اختيار و خدايه تا واخيسته

# غزل

جان محمد زرګر شينواري

د للمې ګل په بيابان اوسوم
زه جدايۍ د خپل جانان اوسوم
د زړه په دشته مې کرلى فصل
په طمعه طمعه د باران اوسوم
الفاظ د خولې نه يې وتلي نه وو
په سپينه خله کې يې دندان اوسوم
وخت او حالاتو نن جدا جدا کړو
د جدايۍ دغې دوران اوسوم
زه به خپل ځان نه دا پوښتنه وکړم
چې دا دې ولې په ارمان اوسوم
پل مې پردي پردي جدا شو رانه
د غريبۍ ځيري ګريوان اوسوم
زړه جان محمد سره وفا نه کوي
په هر محفل کې دې نادان اوسوم

# د خاص کونړ تاریخي ځایونه

د خاص کونړ ولسوالي د کونړ ولایت د لویو ولسوالیو له ډلې څخه ګڼل کېږي، چې د لومړي ځل لپاره د امیر شیر علي خان د امارت پر مهال د کونړ ولایت د یوه رسمي واحد په توګه پېژندل شوې ده. نوموړې ولسوالي ډېر لرغونی تاریخ لري، چې په لرغونو زمانو کې په دې سیمه کې ډېر تاریخي ځایونه رامنځته شوي، چې د دې سیمې په هویت ساتنه کې رغنده رول ادا کوي، چې دغه تاریخي ځایونه په لاندې ډول د څېړنې لاندې نیسو.

**دکونړ غونډۍ:**

دا تاریخي غونډۍ د خاص کونړ ولسوالۍ په مرکزي برخه کې موقعیت لري، چې قابو درې سوه متره لوړوالی لري. په لرغونو زمانو کې په دې غونډۍ کې انسانانو ژوند کاوه او ښایي چې دا هغه وخت و چې په منځنۍ آسیا کې انسانانو په غرونو، سمڅو او غارونو کې خپل ژوند ته ادامه ورکوله.

په نوموړې غونډۍ کې د انسانانو د ژوندانه ډېرې نښې نښانې اوس هم په خپل حال پاتې دي، چې د انساني ژوند څرک ورڅخه لیدل کېږي. د تاریخي شواهدو له مخې څرګندېږي چې د اسلام مقدس دین د راتګ څخه د مخه د بودیزم په دوره کې په دغه تاریخي غونډۍ کې هندوانو ژوند کاوه ځکه چې اوس مهال د دې تاریخي ځای په خواوشا کې کولالي مصنوعات په پراخه اندازه وجود لري، چې د کولالۍ په ځانګړې مهارت سره جوړ شوي دي، چې په دې مصنوعاتو کې خټینې کیټلکۍ، منګي او کوزې شاملې دي، چې د کولالۍ هنر ښکاره کوي چې دا خټین لوښي د خاورو او شګو لاندې ښخې شوي دي چې نوموړي لوښي تر زیاته بریده د خاورو او ایرو څخه ډک شوي چې دا هم د دې څرګندونه کوي چې د اسلام د مقدس دین د راتګ څخه د مخه په دې غونډۍ کې هندوانو ژوند ترسره کاوه، ځکه چې دوی د خپلو مړو ایرې په دې کټوو او لوښو کې اچولې او له ځان سره به یې ساتلې او بیا به یې د خپل سفر پر مهال د خپل ځان سره انتقالولې او د ګنګا په مقدس سیند کې به یې غورځولې.

نو له همدې امله ويلې شو چې د خاص کونړ ولسوالۍ په زياتو برخو کې په پخوانيو وختونو کې هندوانو ژوند درلود چې اوس مهال هم د دې غونډۍ په لويديځ کې يوه ټوټه ځمکه ده چې د هندو د ځمکې په نامه ياديږي، چې د ځمکې مالک يې له هند څخه دی چې اوس هم په هند کې ژوند کوي.

له دې پرته داسې هم ويل کيږي، چې د خاص کونړ لرغونې کلاوې هم د هندوانو يو پله ودانی شوی دی.

**د پرسو تاريخي ځای :**

نوموړی تاريخي ځای د تنر غونډۍ په لويديځه اخرنۍ څنډه کې موقعيت لري. نوموړی هموار ځای دی چې د هندوانو د ستر معبد حيثيت لري، چې اصلاً د پرسو کلمه د هندوانو د مذهبي مشر پرسوف له نوم څخه اخيستل شوې ده، چې په لرغونو زمانو کې به دوی دلته خپل مذهبي مراسم ترسره کول او ټول به دې ځای ته راغونډيدل او په دې ځای کې به دوی ته مذهبي تعليمات او نور اړين موضوعات ښودل کيدل. په دې هموار ځای کې به مذهبي مسلې ترسره کيدلې او د بيساکۍ او داسې نورو مذهبي ورځو لمانځنه به په کې ترسره کيدله. چې نوموړی ځای اوس په خپل پخواني نوم د پرسو په نامه ياديږي.

**د درس جومات :**

دا تاريخي جومات د خاص کونړ ولسوالۍ په مرکزي برخه کې د کوزې اراضۍ په کلي کې موقعيت لري، چې نوموړی جومات هم لرغونې تاريخ لري. دا جومات د خاص کونړ د لوی ويالې په سر او په ډېره آباده او سمسوره سيمه کې ودان شوې، چې خواوشاې دنگو چنارونو نيولی، چې دې ځای ته يې طبعي ښکلا وربخښلې ده. دی ځای ته ځکه د درس جومات ويل کيږي ي په پخوانيو وختونو کې يې د يوې لويې درسگاه او مدرسې بڼه درلوده او د ليرو پرتو سيمو څخه به وگړي دې جومات ته راتلل او په دې ځای به يې خپلې ديني زده کړې ترسره کولې او دلته به شپه او ورځ په درس او تدريس بوخت و، چې د کوزې اراضی کلي خلکو به دوی ته ډوډۍ ورکوله چې دوی ته به د خلکو په محلي ژبه جتان ويل کيدل. کله چې به دوی خپلې ديني زده کړې بشپړې کړې نو بيا به خپلو سيمو ته تلل او خپل خلکو ته به يې ښوونه او روزنه ورکوله.

په نوموړي جومات کې د ديني زده کړو سربېره د ميرزايي او ليکوالۍ يو ځانگړی کورس هم موجود و، چې په نوموړي کورس کې به وگړو ته د ليکوالۍ او ميرزاتوب طرز، طريقه او اصول ښودل کيدل او دوی ته به ميرزايان ويل کيدل چې دوی به د ميرزاتوب په ټولو اصولو او قاعدو پوهيدل او کله چې به له دې کورس څخه فارغ شو نو په لوړو دولتي پوستونو به گمارل کيدل.

****

# د ستورو کاروان

## زه یم

### سمیع الله خاکسار

ټول سوچونه او فکرونه دي او زه یم
چار چاپېر رانه اورونه دي او زه یم

چېرته ځای د سکونت مې پیدا نکړو
هرې خوا نه ګوزارونه دي او زه یم
چار چاپېر رانه اورونه دي او زه یم

د کور کلي او یارانو نه جدا شوم
راپسې ټول ازارونه دي او زه یم
چار چاپېر رانه اورونه دي او زه یم

د ژوندون رنګینې شپې نه شوې خاکساره
تمامي عمر کارونه دي او زه یم
چار چاپېر رانه اورونه دي او زه یم

***

### عصمت الله ملنګ

مستې شه چې ځوان شمه زلمی شمه
بیا دا ستا د مینې لیونی شمه
وایې خله چې مات نه شم ساته مې ته
ستا به د دې سپین مړوند بنګړی شمه
نشي له نظره دې ډېوې سترګې
شمه سپیلنی او ترې لوګی شمه
ښکل به دې ټهر کړم په سپېرو شونډو
ستا په لونګین کې که ځوندې شمه
وچ یمه تازه به په نظرې شمه
بس که د جانان د بڼ نیالګی شمه
دم مې کړه د مینې په منتر باندې
شونډې رانږدې کړه چې ژوندی شمه
مور به په دیدن دې شي عصمت ملنګ
یو ځل که دا ستا د غېږ منګی شمه

***

### محمد زمان - کونړ ګټو قلعه

په دعوی او صفت د خسیس نه نفیس نه جوړېږي
خرڅ د زرو په قیمت به سلور نه شي
کوتي لال به هرګز لعل او ګوهر نه شي
قیمتي زیور له زرو نه جوړېږي
جوړ له جسو او تامبې به زیور نه شي
مشک عنبر کې خاصیت د خوشبویۍ دی
جوړ له پیازو نه مشک و عنبر نه شي
مېړني د چا نه کور کې نه جوړېږي
د دښمن مقابلې ته چې ورنه شي
فرق د حق او د باطل به ښنګه وکړي
چې د حق او د باطل نه خبر نه شي
په محنت کې دی جنت محمد زمانه
د جنت ګټه په خوب د بستر نه شي

***

### مولوي حبيب الله هلال - کونړ گڼو قلعه

زه د خيال فکر څو کې د شاهانو سره وم
په فضا کې الوتمه د مرغانو سره ووم
د چنار د سيوري لاندې د چينې د اوبو شوروه
په وستل کې د ملگرو او دوستانو سره ووم
په غوړو کې مې چغار د چمن د بلبلانو
تصور کې زه د ژوند ښکلو طوطيانو سره ووم
بيلتون نه په څنگ تېر شوم ما بهار له غاړه ورکړه
مجلسونه د مسکا وو د يارانو سره ووم
له زنگون مې سر اوچت که شوه د خيال بادشاهي ورانه
وچې شونډې رنگ مې زېړ وه غمازانو سره ووم
زړه مې درد وکه ناڅاپه او سيلي مې خولې ته راغله
په گريوان مې اوښکې توې شوې ژړاگانو سره ووم
بيگانه مې د خپل کور په هر گوټ راته ناست وو
وو خپلوان مې تورو غرو کې دشمنانو سره ووم
ابدالي چې د شکست څپېړه مخ باندې ورکړې
نن د هغه بې غيرته مزدورانو سره ووم
غيرت او سه سره طبه شه د ميرويس ارمان شه خاورې
د ميوند ملالۍ مړه د نامرانو سره ووم
حقيقت کله خلاصيږي او هلاله قلم بند کړه
ازاد خلک مې و نه ليد غلامانو سره ووم

***

# غزل

### محمد داؤد صديقي يوسفزی

زه به دې خوښ نه شم ملنگي مې ده
ياره څه عجيبه زندگي مې ده
زه چې څومره خوږيم خو بيا هم ياره
کله کله تريخ شم ناچاري مې ده
ما په کاڼو مه ولئ مجنون نشم
ښکلو د دې کلي ښه ځواني مې ده
ژوند د يو شړي او يو لمڅي سره
چم کې دې او سېږم تنهايي مې ده
مړ مې د طور خم په پوله مه وروړئ
وړاندې په اټک کې حسابي مې ده
ژوند که وفا وکړه صديقي سره
خپل وطن ته ځو هلته خاني مې ده

***

د ستورو کاروان ته ډالۍ

# غزل

### سميع الله خاکسار - کوزه اراضی

ځم در نه جانانه مينه نه کيږي
نور مې په دې کلي کې شپه نه کيږي
څنگه به زړگي لتا نه صبر کړم
بې له تا سې بله چاره نه کيږي
ټول عمر مې ستا په غم کې تېر شو لو
نوره مې په خدای گزاره نه کيږي
ټول عمر سميع خاکسار خفه تللی
ستا چم کې رښتيا يارانه نه کيږي

***

# زه به څه وکړم ملگرو

### عبدالمنير غيرت

جانان مې بې وفا شو زه به څه وکړم ملگرو
له ما څخه جدا شو زه به څه وکړم ملگرو
په خوله تري نه خفه يم په زړه کې مې څه نشته
زړگی مې په ژړا شو زه به څه وکړم ملگرو
ياري کړي د پی مخو نور د هر چا څخه بد وړي
ظالم نن په رښتيا شو زه به څه وکړم ملگرو
خندا يې ډو ويېد دل زما په زړه کې د چړو دي

هغـه چې د بـل چا شـو زه بـه څـه وکـړم ملګـرو
غیرتـه ځـان کنټـرول کـړه د یـارۍ وختونـه دي
ریبـار هـم بـې وفـا شـو زه بـه څـه وکـړم ملګـرو

***

# غزل

**ګلرنګ کوچوان**

زمـا زړګـی پسـې پاګـل دی غـواړي مینـه، مینـه
همیش د ښـکلو سـره مـل دی غـواړي مینـه، مینـه
کـه ورتـه هـر څـومره زاري او منتونـه کـووم
اثـر پـرې نـه کـوي جلبـل دی غـواړي مینـه، مینـه
راتـه سـینه کـې پـه ټوپونـو شـي او وایـي راتـه
شـوی پـر مـا بانـدې څـه چـل دی غـواړي مینـه، مینـه
د سـترګو جنـګ کـې زخمـي شـوی د ښـو پـه غشـو
ویشـتی رسـا یـې پـه ګوګـل دی غـواړي مینـه، مینـه
کوچوانـه زړه دې د مـاغزو سـره سـلا نـه کـوي
ښـکاري راغلـی یـې اجـل دی غـواړي مینـه، مینـه

***

عسکر خان چالاک

# غزل

چـې کلـه کلـه دوه پـه دوه غونـدې شـي
ډېـرې حیـا نـه تکـه سـره غونـدې شـي
چـې لاس وراوړد کـړم چلیپـا زلفونـه
زه مـوازي او دا زاویـه غونـدې شـي
رنـګ یـې بـدل شـي زیـړه پیـړه واوړي
واریـې خطـا سراسـیمه غونـدې شـي
چـې ورنـه وغـواړم تفصـیل د مینـې
ژبـه یـې وچـه شـي ګونګـه غونـدې شـي
کلـه چـې سـترګې مـد او جـذر کانـدي
مـا غرقـوي مینـه یـې څپـه غونـدې شـي
اخـر بـه ځـي د رسـوایۍ تـر پـولې
عسـکره مینـه چـې اوږده غونـدې شـي

***

# د ظالم قصاب په درکې

**عبدالرؤف قتیل خوږیانی**

ارزوګـانې حلالیـږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
امیدونـه کبـابیږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
پـه چـاړو او مردکیـو پـه توپـو او راکټونـو
هـر کلـی د هیلـو کیږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
پـه لمـن داسـره داغونـه قتـل ګـاه د ژوندانـه ده
چې لـه ورایـه معلـومیږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
نـازولی ارمانونـه پـه ترخـو ترخـو څپیـړو
خپلـو وینـو کـې شـټیږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
دا ټپـي ټپـي وطـن مـو د شـهیدو هیلـو ځالـه
پـه سـورکـو سـترګو ژړیـږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
مینـه مـړه ده رحـم نشـته د زړه سـوی کـډه بارشـوي
عاطفـه پـه اور وریتیـږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
ددې کلـي پـه کوڅـو کـې لمـن ډکـه ده لـه کـاڼو
سـړیتوب بانـدې وریـږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
ښـاپیرۍ د ژوندانـه ده زینـدۍ کـړې ظالمـانو
سرې چـړې دې چـې ځلیـږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
د قصـاب پـه سـر بـه جـوړ کـړي ابابیـل د کـاڼو ځلـي
د قصـاص دار بـه دریـږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې
وخـت نـژدې راتـه ښـکاریږي وار خطـا نـه شـې ((قتیلـه))
نـاروا نـوره ختمیـږي د ظـالم قصـاب پـه درکـې

***

# د وطن دردمنو بچیانو ته

**سید عبید الله نادر**

تـه لـه خپـل حالـه نـه خبریـږې ولـې؟
د سـترګو تـوره بـې زړه کیـږې ولـې
لـه کاروانـه لیـرې کیـږې ولـې

عزم و همت باندې او چت کړه ته ګام
له خنډ او خار ځینې ویرېږې ولې
د ترقۍ کاروان فلک ته وخوت
ته له خپل ځایه نه خوځېږې ولې
نورې په ستورو کې، ځېرنې کوي
ته په تش خاورو کې لوبېږې ولې
خلک ساحل ته د نجات ووتل
ته په خوناب کې بیا ډوبېږې ولې
ستا مستقبل باندې غلیم کړې لوبې
ته له خپل حاله نه خبرېږې ولې
نور د مراد و سر منزل ته رسي
ته په اوهامو کې ورکېږې ولې
مهار نیولی لیونو، د کاروان
ای بې خبره نه پوهېږې ولې
ټوله دنیا لاس د وحدت ورکړې
ته د نفاق په اور سوځېږې ولې
انبار غمونه، ستا په کور پراته دي
ته د خپل درد، نه دوا کېږې ولې

***

هدایت الله (حیات) - لغمان، مهترلام

## د قدرمن ښوونکي درانه مقام ته

ته د وخت تورو تیارو ته بل مشال یې
ته د پوهې په ګانه باندې سنبال یې
تا د علم نور هر کس ته رسولی
ته خاوند ګوره د څومره لوی کمال یې
ستا په مخ کې د باطل سرونه ټیټ دي
درلودونکی د منطق او استدلال یې
روښنایي دې د تیارو غبرکې پاشلې
د ظلمت سره هر وختې په جنجال یې
زخمتونه، تکلیفونه دې ګاللي
د منزل په لوري تلونکی په هر حال یې
د خپل علم له برکته تل ځلېږې
چې ایرو کې نه پټېږي هغه لال یې
د نن ورځې پاچاهان که امیران دي
ته د ټولو په سرستوری د اقبال یې
ته د حق او د باطل په فرق پوه یې
پېژندونکی د ثواب او د وبال یې
اسلامیت او انسانیت مو له تازه کړ
ته د څومره ښو خبرو ویناوال یې
په سرونو پاچاهي مشکله نه ده
چې په زړونو وي واکمن هغه واکوال یې
د مادیاتو له پلوه که غریب یې
معنوي ډګر کې ته ستر پانګوال یې
د عزت او درناوي وړ یې استاده
چې زمونږه نېکمرغیو ته لېوال یې
زه (حیات) دې په سپېڅلي احساس ویاړم
ته د هر رنګه بدیو نه کنګال یې

***

# نظم

خلیل الله یوسفزی
د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي محصل

د عشق په دنیا کې عاشقي ده زما خوښه
جانانه ستا لیدو ته بې صبري ده زما خوښه
چې ستا دیدن په کې وي نور څه نه غواړم د خدایه
ولو: که غلامي وي، غلامي ده زما خوښه
تر څو پورې به مونږه مینه کړو په پټه، پټه
د داسې پټې مینې رسوایي ده زما خوښه
زه خلیل خو شاعر نه یم، تش شوقي یم د شعرونو
چې را یاده شي سفر کې شاعري ده زما خوښه

(ناول) پرله پسې چاپ – لومړۍ برخه



# شیطان د پرښتې په جامه

لیکوال : ص-ف حیات
وژاړندې کوونکی : شفیق الله مفاد رحیم زی

شپه تیاره وه هرې خوا ته تیارې خپل تغر خپور کړی و په آسمان کې هرې خوا ته تورې وریځې خپرې وې او دا اشارې یې ورکولې چې د باران د وریدلو امکان شته په ځای ځای کې د آسمان ډیوې خپلې شغلې او ننداري ځرگندولې.

په خپل کور کې ناست وم، چې د دروازې ټک ټک مې ترغوږو شو ورپاڅېدم او وگورم چې څوک او له کومه ځایه راغلي دي. په غالب گومان د شپې لس ۱۰ بجې وې کله مې چې دروازه پرانیسته گورم چې یو پولیس تر سلام او روغبړ وروسته په ناڅاپي ډول دیوې دردونکې پېښې خبر راکړ، چې د اورگاډي پاټلۍ ته څېرمه یوه جنۍ دوه ځایه پرته ده. نیم بدن یې د پاټلۍ پرمنځ او نیم یې د پیاده روډ پر غاړه پروت دی او اورگاډی په شاړه دښته کې ولاړ دی.

ما سمدستي خپل ځان چمتو کړ او د پېښې د ځای پر لوري روان شوم. دا د هغه وخت او زماني خبره ده چې په هغه وخت کې د پولیس محکمې دومره پرمختگ نه و کړی چې هر یو افسر ته دې ترانسپورټي اسانتیاوو زمینه برابره شي. په هر حال په توره تیاره کې د پېښې پر لوري روان وو کله چې د پېښې ځای ته ورسیدم ډېر ویرونکی او له وحشت څخه ډک حالت و. له اورگاډي څخه ټول مسافرین راکیوتي وو او د پېښې په هکله هر یو خپل اټکلونه وړاندې کول. ځرنگه چې یوه لوري ته توره شپه او بل لوري ته د پولیس په دریشي کې یو اغېزه وي د مسافرینو په منځ کې ورگډ شوم. د هر یو ځوان او سپین ږیري څېره له غم او مصیبت څخه ډکه ښکاریده. د اور گاډي چلوونکی ډریور هم یو ږیرور او سپین ږیری سړی وه. د هغه په مازغو هم پېښې شوې حادثې ډېر اغېز غورځولای و، چې مړاوې او غمجنې څېرې یې له ورایه ځوابونه ورکول. نوم یې رفیق حسین او د Passenger Down R۹ نمبر مسافر وړونکی اورگاډي چلوونکی وه. نوموړی اورگاډی د ماړۍ انډس او لاهور د دوو ښارونو ترمنځ په واټن کې تگ راتگ کاوه.

د مسافرو او چلوونکو چې زما پر لور پام شو نو نور هم په ویره او هیبت کې شول. لومړنۍ پوښتنه مې له چلوونکي څخه وکړه. چلوونکیه څرنګه دا پېښه رامنځته شوه.

تر رسمي سلام وروسته یې ځواب راکړ. ښاغلیه دغه پېغله جینۍ ناڅاپه د اورګاډي مخې ته راغله. په دې وخت کې پېغلې او اورګاډي ترمنځ د کابو کولو ډېر کم واټن و چې په دې وخت کې تیز تلونکی اورګاډی کنټرولول او کابو کول، ډېر ستونزمن وو نو ځکه پېښه رامنځته شوه. افسر صاحب په دې کې زما هیڅ غلطي او قصور نشته تاسې له دې حاضرو مسافرو نه هم پوښتنه کولای شئ.

ما ترې په ځواب کې وپوښتل آیا هغه په خپله خوښه د اورګاډي مخې ته راغله؟ ګومان کوم چې د خودکشۍ اراده یې وه، سپین ږیري چلوونکي ځواب راکړه. دا د الله جل جلاله کارونه دي او ښه پوهیږي. پېغله د پاټلۍ له تختو سره نږدې شوه. ناڅاپه د پاټلۍ منځته راغله. زه پوه نه شوم ما دا ګومان وکړ، چې کوم ژوی (حیوان) لکه سپی او یا بل ځناور تر اورګاډي لاندې شو خو په دې وخت کې ځینو مسافرو د ډېرې وېرې او چیغو د اورګاډي زنځیرونه کش کړل. نو زه اړ شوم او اورګاډی مې ودراوه.

ما ترې بیا وپوښتل آیا له دې پېغلې سره نور څوک هم وه او که یوازې وه؟

چلوونکي راته په ځواب کې وویل څرنګه چې زما نظر د تګلوري د مسیر د ښي خوا د کړکۍ لوري ته و او پیغله د پاټلۍ کیڼې خوا ته وه او بله دا چې پېغله له تختو سره بالکل نښتې (جوخته) وه، چې لیدل یې هم ستونزمن وو. دا پېښه یوازې په څو ثانیو کې رامنځته شوه. پېښه په ریښتیا هم ډېره دردناکه وه. مسافر هم خپه او غمجن ولاړ وو او ځینې یې خولاس تر زنې ناست وو او د نوموړې پېښې په هکله یې خپل ښلا ښل اټکلونه وړاندې کول. ځینې مسافرو دا ویل چې هغوی یو سړی ولیده چې د همدې پېښې پر مهال د اورګاډي کیڼ لوري ته په تیزۍ سره منډې وهلې او د شنو لوخو په ځنګل کې پناه شو خو چلوونکي دا خبره کوله چې بل څوک یې تر نظر رانه غی ځکه چې چلوونکی هر وخت له پام او احتیاط څخه کار اخلي او ټول پام یې مخامخ لوري ته وي.

د چلوونکي تر وینا وروسته زه د مسافرو خوا ته متوجې شوم ټول راته مخامخ ولاړ وو غوښتل مې چې د پېښې په هکله ترې پوښتنې پیل کړم، چې دوی کومې د څرګندونې دي. ښاغلیو تاسو د دې پېښې په هکله څه وایئ.

یوه مسافر ویل افسر صاحب ما له سره نږدې یو سړی هم ولیده هغه زما په مخ کې پیغلې ته ټیله (ډیکه) ورکړه او د پاټلۍ منځ ته یې راوغورځوله او سمدستي د لوخو په ځنګل کې په ډېر تېزۍ سره پناه شو. دغه مسافر چې یو پوره غښتلی او څیرې او شکل نه ښه معقول معلومیده پوښتنه مې ترې وکړه. ځوانه ته د اور ګاډي په کومه برخه کې ناست وې.

ځواب یې راکړ: افسر صاحب زه د اورګاډي مخکینۍ برخې (ډبې) په لومړۍ څوکۍ ناست وم او د پېښې پر مهال دروازې ته مخامخ وم.

بیا مې ترې وپوښتل: کیڼې خوا ته ناست وې او که ښۍ خوا ته. ځوان تر لږ سوچ وروسته ځواب راکړ او په اشارې یې راته وویل هغې خوا ته.

نور په بله ګڼه کې...

# له ځوان شاعر سميع الله خاکسار سره مرکه

مرکه کوونکی : شفيق الله مفاد رحيم زی



سميع الله خاکسار او شفيق الله مفاد

پوښتنه : کـه لـه هر څـه د مخـه د ستوری مجلې قدرمنو لوستونکو ته ځان وروپېژنئ خوښ به شو.

ځـواب : سـلامونه ښـه گلونـه مينـه او احترامـات تاسـو او ستاسـو همکـارانو او درنـو لوسـتونکو تـه زمـا نـوم سـميع الله خاکسـار د مرحوم سيد رحيم زوی د کـونړ ولايـت د خـاص کـونړ ولسـوالۍ د کـوزې اراضې د کلي اوسيدونکی او د خاص کونړ د عـالي ليسـې د يوولسـم ټـولگي زده کوونکی يم.

پوښتنه : څومره موده کيږي چې شعر ليکلو ته مو مخه کړې؟

ځواب : لـه ماشومتوب مې د شعر شاعرۍ سره مينـه وه خو يوکـال کيـږي چې د شعر نړۍ ته راغلی يم.

پوښتنه : تراوسه مو څومره شعرونه ليکلي دي؟

ځواب : تراوسه مې تر ۱۰۰ پـورې شعرونه ليکلي دي.

پوښـتنه : پـه شـعر ويلـو کـې د چـا شـعر خوښوئ او له چا څخه متاثره ياست؟

ځواب : د عصمت الله ملنګ او عرفان الله کوټوال شعرونه مې خوښيږي او دوی ما سره په شعر ليکلو کې ډېره مرسته کړې او له هم دوی څخه متاثر يم.
پوښتنه : د زده کړو او عمر په باره کې معلومات راکړئ.
ځواب : تعليم مې د يوولسم پورې دی او دوام لري او عمر مې ۱۷ کاله دی.
پوښتنه : څه علت وه چې شعر ليکلو ته مو مخه کړه؟
ځواب : د وطن مينه وه چې زه يې دې ته وهڅولم چې شعر وليکم.
پوښتنه : مينه مو کړې که نه؟
ځواب : (په خندا) هو د خپل مور او پلار سره، د خپل وطن د خپل کلي د خپلو دوستانو او له هغه چا سره چې هغه ما غواړي او زه هغه غواړم.
پوښتنه : د کتاب د چاپ کولو اراده لرئ که نه؟
ځواب : هو اراده لرم چې په نږدې راتلونکي کې يو کتاب درنولوستونکو ته وړاندې کړم.
پوښتنه : آيا واده مو کړی که نه؟
ځواب : اوس لا په زده کړه بوخت يم د واده اراده نه لرم.
پوښتنه : په آخر کې څه پيغام لرئ؟
ځواب : پيغام مې هېوادوالو ته يوازې دا دی چې خپل تعليم په خپل مهارت سره وکړي او د خپل هېواد په جوړولو کې ونډه واخلي.

مننه. له تاسو هم مننه

وسلام

د سميع الله خاکسار د شعر نمومې :

## غزل – که راځی

رسيدلی يم تر داره که راځی
وه زما ماشومه ياره که راځی
زه به لاره په بڼو درته جارو کړم
گرانه ياره په دې لاره که راځی
ما ته تري ډالی د گلو راوړه
د گلونو د گلزاره که راځی
راشه څنگ ته مې لږ غلی شانته کينه
ای د سوي زړه پرهاره که راځی
ستا له غمه وه سميع باور وکړه
پروت يم زه ډېر ناقراره که راځی

×××

## غزل – لږ راوگوره

ودې سوم جانانه لږ راوگوره
پروت يم پريشانه لږ راوگوره
ستا په غم ژړيږمه کړيږمه
ای د ژوند ارمانه لږ راوگوره
تا چې پرې زړگی له ما نه وړی
بيا سترگو کې جانانه لږ راوگوره
دا د هجر شپه ده سبا کيږي نه
راشه قدردانه لږ راوگوره
وسومه سميع خاکساره وسومه
گرځم سرگردانه لږ راوگوره

لایق زاده لایق

# راځئ چې بیا وخاندو

## (ټوکې ټکالې)



**په ما هټکي لګیدلي دي.**

یوه ورځ یو خان په خپل موټر کې ناست و او د ناشناس غزلې یې اوریدې، د خان وزن به خو اوشا یو سل شل کیلو و، هغه به د هر شعر سره سرخوځاوه چې یو ناڅاپه موټر په ټوپوو شو، د خان نوکر چې دا تماشه ولیدله، نو رامنډه یې کړه چې موټر ته نږدې راغی، نو ساه ساه یې د خان نه پوښتنه وکړه چې خان په دې موټر څه شوي دي چې ټوپونه وهي، خان ورته وویل مړه موټر ټیک دی، خو په ما هټکي لګیدلي دي.

**د خاورو تیل ورکړه:**

په بونیر کې یو سړی په ډېره مینه ځانته یوه غوا اخیستې وه، ښې ډېرې شیدې به یې کولې، یوه ورځ دا غوا ډېره ناروغه شوه سړی ډېر پرېشانه و په خپل یو خوږ ملګري پسې لاړو او پوښتنه یې ترې وکړه

چې هلکه هغه ستا غوا چې نا روغه وه تا ورته څه ورکړي و، هغه ورته فوراً وويل چې (د خاورو تيل) سړی ډېر خوشحال شو او نور څه پوښتنې پرته يې کور ته منډه کړې او ژر ژر يې خپلې غوا ته يو ګيلن تيل په خوله کې په زور واړول، غوا په لغتو پېل وکړ او مړه شوه، سړی ډېر خفه شو او بېرته خپل هغه ملګري پسې راغی او په غوسه يې ورته وويل چې ظالمه زما هغه غوا خو مړه شوه. ملګري يې ورته يو سوړ اسويلي سره وويل نو زما هغه کومه ژوندۍ پاتې شوې ده.

**درود شريف به درته ووايم**

يو بوډا سړی په بايسکل سپور و، کله به د سړک يوې غاړې ته کيدو او کله بلې غاړې ته يو بريتو پوليس دا سړی په دې حال کې وليدو، نو د ودريدو اشاره يې ورته وکړه چې کله بايسکل ودريدوو نو بريتو کاکا په بوډا سړي پسې نژدې ورغی او په ډېر طنز يې ورته وويل : خان کاکا ستا اسم شريف څه دی؟ هغه ورته وويل بچيه اسم ميسم شريف دې نه پېژنم خو درود شريف به درته ووايم.

**ګل محمد اکا:**

يو سړي خپل زوي ته وويل که دا ځل په ښوونځي کې فيل (ناکام) شوې نو ما ته به پلار نه وايې، زوی چې ازموينه (امتحان) ورکړ او کور ته راغی نو پلار ترې پوښتنه وکړه چې هلکه څه دې وکړل پارچه دې ورکړه، زوی په جواب کې وويل ګل محمد اکا تپوس يې مه کړه.

**زما تادي ده:**

يو سړي بايسکل د هنډلو (لاستي) نه کلک نيولی و او منډې يې وهلې چا ورته اواز وکړ چې هلکه ودريږه څه کار مې درسره دی.

سړي منډې ته لا زور ورکړ او په چيغه يې ځواب ورکړ چې اشنا که ما سره دومره وخت وي نو زه به په بايسکل نه ووم سپور شوی؟

**د دري دقيقو لاره:**

مسافر يو کلي ته ورغلو هلته يې په کلي کې له يو کليوال څخه پوښتنه وکړه.

چې ورورره تر هغه فلاني کلي پورې څومره لاره شته.

کليوال ورته وويل چې هسې خو تر هغه فلاني کلي پورې د پنځلس دقيقو لاره ده خو که زموږ د کلي سپي په در خبر شو په درو دقيقو کې به دې ورورسوي.

****
***
**

# د محلي سندرغاړي حميد الله ځوانمل سره مرکه

مرکه کوونکی : سيد نور سالارزی



پوښتنه : که د هر څه وړاندې خپلو مينه والو ته ځان وروپېژنئ؟

ځواب : نوم مې حميد الله ځوانمل، د پلار نوم مې محمد جان د ننګرهار ولايت د سره رود ولسوالۍ اوسيدونکی يم.

پوښتنه : څومره وخت کيږي چې هنر ته مو مخه کړې ده؟

ځواب : تقريباً (۱۵) کاله کيږي چې دا لار مې خپله کړې ده.

پوښتنه : لومړۍ سندره چې تاسې ويلې کومه يوه ده؟

ځواب : لومړنۍ سندره چې ما ويلې دا ده، چې (بدل شولو دستور د زمانې – اوس نشته بې مطلبه يارانې) دا د عبدالقدير وطنوال شو ده، چې د ننګرهار (TV) کې مې ويلې ده.

پوښتنه : تراوسه کوم بهرنې هېواد ته تللی ياست او که نه؟

ځواب : نه تراوسه نه يم تللی.

پوښتنه : ځوانمل صيب که ووايئ، چې په موسيقۍ کې مو زده کړه له چا څخه کړې ده؟

ځواب : زده کړه مې د خپل مشر ورور شيرين آغا څخه کړې ده.

پوښتنه : څرنګه مو دې هنر ته مخه وکړه؟

ځواب : په دې اړه بايد دومره ووايم چې کله زه (۱۲) کلن وم د فقير الله په عالي ليسه کې مې ترانې ويلې. د ترانو ويلو له مخې مې د هنر سره شوق پيدا شو او هنر ته مې مخه وکړه.

پوښتنه : مشهوره سندره مو کومه يوه ده؟

ځواب : مشهوره سندره، چې ما ته يې شهرت حاصل دی هغه دا سندره ده، چې وايي : (زما د زړه خونه تالا شوه د بې وفا د لاسه، تباه، تباه شوم) چې دا مې هم په ننګرهار (TV) کې ويلې ده.

پوښتنه : تراوسه مو غبرګې سندرې ويلې دي او که نه؟

ځواب : هو په محلي پروګرام کې مې د (رابيعه تبسم) سره غبرګې سندرې ويلې دي.

پوښتنه : په آخر کې که ځوانانو ته څه پيغام لرئ؟ څرګندونه يې وکړئ.

ځواب : ځوانانو ته زما له لوري دا پيغام دی چې علم وکړي او د تعليم له نګاه څخه خپل وطن آباد کړي او خدمت وکړي.

پوښتنه : مننه درڅخه چې مرکې ته حاضر شوئ.

ځواب : ستاسو له نشريې څخه هم مننه چې مونږ ته يې د څه ويلو موقع راکړه.

ډېره مننه وسلام

# سالمه روغتیا لویه شتمني ده

## څېړنې او پلټنې

**څېړنه: مڼه د وینې د پړن کېدو مخه نیسي.**
ایا دا سمه ده، چې وايي "چې مڼه وي، ډاکټر ته اړتیا نه شته"؟
مڼه: همدا سې ده، ځکه نوې څېړنه ښیي، چې د مڼې او هغو سبزیجاتو خوړل، چې سپینه شیره ولري، د وینې د پړن کېدو مخه نیسي.



د امریکا (هېلت ډې نیوز) وېبپاڼه وايي، چې هالنډي څېړونکو په یوه تازه څېړنه کې موندلي، چې ۲۵ گرامه مڼه او یا هغه سبزي خوړل چې سپینه شیره ولري، د وینې د پړن کېدو په مخنیوي کې ۹٪ مرسته کوي.
دوی وايي، چې د وینې د پړن کېدو د مخنیوي لپاره په مېوو کې مڼه او ناک تر ټولو ډېر اغېزناک رول لري؛ ځکه چې په منځ کې یې سپینه شیره وي.
په هالنډ کې د واگنگین پوهنتون څېړونکي لیندا اود گریب وايي، مېوه او شنه سبزي او مالته د وینې د پړن کېدو په مخنیوي کې ۸۲٪ مرسته کوي.
خو لیندا دا هم په ډاگه کړې، د دې معنا دا نه ده، چې گڼې هغه مېوه او سبزي گټه نه لري، چې سپینه شیره نه لري، ځکه کیدای شي دا د نورو مزمنو ناروغیو په درملنه کې گټور پرېوځي.
نومورې د ډېرې مېوې او سبزي د خوړلو توصیه کوي.
دغه څېړنه د ۲۰ او ۲۵ کلونو ترمنځ په شاوخوا ۲۰ زره کسانو ترسره شوې ده او د هغو مېوو پر بنسټ پر څو ډلو وېشل شوي، چې دوی یې خوري.
دغې څېړنې پوره لس کاله وخت نیولی، چې بیا وروسته په ډاگه شوه، چې ۲۳۳ کسانو د وینې د پړن کېدو ستونزه لرله.
په پای کې دا څېړونکې ډله دې ته ورسیده، چې ډېره مېوه او سبزي خوړونکي کسان د وینې د پړن کېدو له ستونزې ژغورل کېږي.
څېړنه وايي سپینه شیره لرونکې مېوه، لکه مڼه، گوپي (د کرم گل)، بادرنگ، مرخېړي، کیله، د مڼې اوبه او ناک د وینې د پړن کېدو مخه نیسي.
د پوهانو د وینا له مخې د قهوې ورځنی استعمال د وینې دوران په ولکه کې راولي. له دې وړاندې ځینو پوهانو ویلي ول چې قهوه (کافي) د وینې فشار لوړوي، د زړه د ناروغۍ، سټروک او عمر په کمولو کې ونډه لري خو د نوې امریکایي څېړنې له مخې د ورځې له دوو څخه تر څلور پیالو قهوه څښل د وینې دوران کابو کوي.

ویل شوي چې په دې څېړنه کې له ۳۳ کلونو راهیسې د یو لک و اویازره کسانو معلومات راغونډ کړل شوي او څېړنه پرې شوې.

**څېړنه: بوره د روغتیا لپاره ډېره زیاته خطرناکه ده.**

د نویو څېړنو له مخې بوره (چیني) د روغتیا لپاره ډېره زیاته زیان رسوونکې او خطرناکه ګڼل شوې ده. د امریکا د (دکولارډو) پوهنتون د یوې نوې څېړنې له مخې د صحت لپاره زهر قاتل ده، چې ذیابیطیس، د زړه ناروغۍ او پوښتورګیو د ناسم کار او چاغۍ سبب ګرځي.

په څېړنه کې راغلي چې بوره (چیني) پر میټابولیزم هم ناوړه اغېز شتون fructose کوي او د دې اصلي وجه په بوره کې د فرکتوز دی.

**د جوارو دانې له ویټامین ای، بي او سي ډکې دي.**

د یوې نوې څېړنې له مخې ویل شوي چې د جوارو کارول انسان له ډېرو ناروغیو څخه خوندي ساتي.

د څېړنې له مخې په جوارو کې ویټامین ای، بي او سي ښه پریمانه موجود دي. ویل شوي چې د جوارو خوړل په بدن کې د نویو حجرو له جوړښت سره مرسته کوي، د شوګر او په وینه کې د کولیسټرول په کابو کې کولو کې هم مهم اغېز لري.



ویل شوي چې جوار د هاضمې پر نظام هم ښه اغېز کوي. د رپوټ له مخې روغتیا پوهان هغو ناروغانو ته چې وینه یې کمیږي یا د اینیمیا په ناروغۍ اخته وي، د جوارو د خوړلو لارښوونه کوي.

**څېړنه: د زړه د روغتیا ساتنې لپاره ځینې لارې چارې.**

ایمل خان

د څېړنو له مخې که انسان د زړه د ساتنې په خاطر پنځه لارې خپلې کړي نو په ټول عمر کې به یې زړه خوښ او روغ واوسیږي. د نیویارک د زړه د انسټیټوټ د یوې څېړنې مطابق تر هر څه وړاندې باید په وینه کې د کولیسټرول پر کچه پام ولرل شي، ځکه چې اصلي ګډوډي له دې ځای څخه پیلیږي.

هره ورځ له شلو نه تر دېرش دقیقو پورې پلې ګرځېدل د زړه د ساتنې لپاره یو بل ښه ګام ګڼل شوی دی.

د انسټیټوټ مشر هولي اینډرسن ویلي، چې باید د زړه له خلاصه وخندل شي، ځکه له دې سره د زړه شریانونه پیاوړي کیږي او هیڅکله په خندا کې شومتیا ونکړل شي.

همدا شان د وزن پر ډېرېدا دومره توجه نه بلکې د ملا پر شاوخوا د وازدې پر ډېرېدا باید پام وساتل شي، ځکه د ملا شاوخوا وازده (شحمیات) د لوړ فشار باعث ګرځي.



د ځېړنې مطابق ویل شوي چې د زړه د ساتنې په برخه کې خوړ خوب او ارام هم ډېر اهمیت لري. ویل شوي چې کله څوک خوب ته ځي باید ځان له ټولو اندېښنو څخه خلاص کړي.

**ځېړنه : د ټلویزیون زیات کتل کوچنیان په ناروغیو اخته کوي.**

د یوې نوې ځېړنې له مخې تلویزیون ته د کوچنیانو له دوه ساعتو څخه زیاته ناسته په دوی کې د زړه ناروغي، لوړ فشار، ذیابیطس په شان ناروغیو گواښونه زیاتوي.



داسټرالیا د سډني پوهنتون ساینس پوهانو له ځېړنې وروسته میندو او پلرونو ته خبرداری ورکړی چې د خپلو بچیانو د ټلویزیون کتلو عادت په ولکه کې راولي.

درپوټ له مخې په دې ځېړنه کې د ۳۲ ښوونځیو پر یو نیم زر ماشومانو د ټلویزیون بد اثرات څېړل شوي دي. له ځېړنې ښکاره شوې چې له دوه ساعتو یا له دې څخه زیات وخت ټلویزیون ته کېناستو سره سترگو ته نږدې د وینې شریانونه تنگیږي او له دې سره نه یوازې دا چې وروسته په ماشومانو کې د زړه ناروغۍ پیدا کیږي، بلکې د عمر له زیاتېدو سره د لوړ (فشار او ذیابیطس ښکار هم گرځي.

**له ځربښت (چاغښت) سره فکري گډوډېږي.**

نویو ځېړنو دا ښودلې ده چې ځربښت کولای شي په فکري گډوډیو کې زیاتوالی رامنځته کړي. د امریکا د ملي روغتیا په اړه یې له (۴۰) زرو څخه زیاتو کسانو باندې ځېړنې ترسره کړي دي. دا څرگندوي چې چاغ (ځرب) سړی له عادي سړي څخه دوه برابره له فکري گډوډۍ، خپگان او پریشانۍ سره مخ او کړیږي او په چاغو (ځربو) کسانو کې د خوارو (ناچاغو) کسانو په پرتله سودا ، پریشاني او خپگان زیات وي.



ځېړونکي تراوسه هم په کره توگه په دې نه دي بریالي شوی، چې د چاغښت (ځربښت) او فکري گډوډۍ ترمنځ اړیکې پیدا کړي خو په دې باوري شوي دي، چې جنتیکي (وراثتي) کره وړه او ناسته ولاړه کیدای شي چې د وزن په زیاتوالي او فکري گډوډۍ په ډېروالي اغېزې وښندي.

****
***
*

لیک : جمشید ندیم نیازی

# قصر شاهان ادبی محفل

د اتــوار ورځ کــال دوه زره یــوولس د جــولای دریمه نېټه (۲۰۱۱-۰۷-۳۰) مازدیګر پنځه بجې د قصر شاهان ادبي محفل ورسک روډ میاشتنۍ تنقیدي غونډه پـه متهـرا هـائی سکول کې د ښاغلي سید فضل سبحان بهدم په صدارت کې وشوه د هر څه اول میا منور شاه اسیر د قرآن حکیم تلاوت وکړو.

د نظامت فرایض او د تېر اجلاس اوریدل ؤ، جمشید ندیم نیازی په غاړه ؤ، دغسې په روداد تنقید شروع شو چې ابتدا یې ښاغلي فضل باقي تاجک وکړه، و یې ویل روداد جامع و زه یې تعریف کوم، ښاغلي سید روغن شاه زرغن وویل روداد معیاري ؤ په مقاله کې چې کوم کمی بیشی و روداد لیکونکي د خپل روداد په ذریعه دغه کمی بیشی پوره کړی دی او بله دا چې د وینا انداز یې هم عام فهم او روان و روداد جامع او مکمل روداد و. ښاغلي زرغـن زیاتـه کـړه پـه روداد کې (کوه سلیمان) چې کومه خبره زما په حواله شوې ده نو ما دا وییلي و چې دغـه د بنـي اسـرایلو لـه طرفـه استعمالولی شول یعنې هغوی دغه الفاظ په استعمال کې راوستل. شاغلی جهانګیر بې وسه د روداد تعریف وکړو. صدر محفل هم د روداد ستاینه وکـړه. د صـدرمحفل لـه اړخـه روداد د معیـاري ګرځېـدو نـه پـس د ایجنډې ترمخه جمشید ندیم نیازي خپل نظم (د تصور په تال) تنقید تـه پـیش کـړو چې ملګرو پـرې تنقیدونه شوروع کړل. د نظم لومړنی بند څه په

دا ډول و.

لومړنی بند :

دا د تصــور پــه شــاړه دشــته کــې روانـــه وه
دا خـــورې ورې زلفـــې حیرانـــه وه حیرانـــه وه
کـاش چې ځوخبرې مې د دې سره کـولې شـوې
کاش چې ځو شیبې مو سره یوځای تېرولې شوې

×××

په نظم د تنقید ابتداء ښاغلی زرغـن وکړو او ویې ویـل چې زه دا غـواړم چې د دې نظم پـه وضاحت وشي، چې دا د نظم کوم شکل دی. یعنـــي د حیثیـــت پـــه لحـــاظ د ســـترکچر (Structure) په لحاظ زرعن صیب زیاته کړه د نظم درې کړی یا مصرې په خپلو کې هم قافیـه وي او بیا ځلورمه مصره د نظم د مطلعې سره هـم قافیــه وې ښــاغلی تاجـک وویــل : هغــه چاربېته نما نظم وي او پاتې شو دا نظم نو دا قطعه بند نظم دی دې ته قطعه بند نظم ویلی شي، چې دا د یـو یـو بنـد ځان ځان لـه خپلـه قافیـه وي. دغســې یـو مصری نظـم وي، چې قافیه نه لري خو وزن لري. غزل نما نظم هـم وي چاربېته نما نظم هم وي، چې خپل یو شکل یو چوکاټ لـري. ښـاغلي تاجـک وویـل پـه پـوره نظم تنقید گران دی. په یو یو بند ځان ځان لـه یعنې جدا جدا تنقید پکار دی. ښاغلي تاجک وویل زه د نظم پـه لومړني بند پوهـه نـه شوم، چې دی اخیر څه وئیل غـواړي؟ ښـاغلی زرغـن وویل د شعر حیثیت ترې مات شوی دی. صدر محفل وویل پـه فکـر کې یـو تسلسـل شـته دی خـو تاسـو پـرې لـږ غـور، فکـر وکـړئ دا یـو رومـانوي نظـم دی. زه د لـومړني تعریـف کـوم ښـاغلي صـدر تـه زیاتـه کـړه چې د نظـم د نـوم څخـه څرگنـدیږي چې دا دشـاعر تصـور دی پـه تصـور کـې د حـورې هسـې یـوې ښـکلې او پیمخـې جینـۍ پـه شـان خـورې ورې زلفــې حیرانه حیرانه ده او زه غواړم چې دې سره ځو خبرې وکړم خو هغـه ځان بې وسـه او لاچاره گڼي او دا ارمان ژاړي دا ارزو او حسرت لري، چې کاش مادې سره ځو خبرې کولې شوې او ځو شیبې ناسته مې ورسره کولې شوې.

دویم بند :

منډې ترړې دې کړې اخوا دېخوا په گلونو کې
دې جټې خـوږې د محبـت مسـتو تـالونو کـې
دا خـــو د غمونـــو او دردونـــو نـــه ازاده ده

×××

ښاغلي زرغـن وویـل پـه دې بنـد زمونږ فکـر نـه سـپړلی کیـږي، چې شـاعر څـه وئیـل غـواړي؟ ښاغلي تاجک وویل د تېـر بنـد پـه څېـر پـه دې بند کې هم څه خاص وضاحت نشـته چې څـوک منډې ترړې کوي. دا څه څیز دی ... انسـان دی او که نه څه بل څه دی؟ ... ښاغلی صدر محفـل وویـل دا د تیـر بنـد سره کلـک تـړون او علاقـه لـري او منـډې تـرړې ((دې کـړې و (د دې) کـړې لفظونـه مونـث ظـاهریږي، چې دا یـوه خیـالي یاتصوراتي پېغلـه یـا جینـۍ ده او د شـاعر پـه تصور کې دا پـه سرو گلونـو کـې منډې تـرړې وهي. مستیانې کوي لکه د یـو عـامې پېغلـې

پـه متحـد او د ځـوانۍ پـه جـوش جذبـه کـې خوشـته او سـرگردانه ده. ښـاغلی صـدر بهـرم زیاتـه کـړه چـې شـاعر دا هـم وایـي چـې دا د غمونو او دردونو څخه آزاده او بې نیازه ده. دا لکـه د مسـتې جنتـي حـورې پشـان د خپـل ښایست په نشـه کې ده. داد چا څه پرواه لري که هر څو شاعر د دې په تماشه دی خو دا ورتـه نه گوري ناغرضه ده او شاعر ته د خبرې موقع په لاس نه ورکوي شـاعر ورتـه پسـخیږي او پـه هر صورت کې زیار کوي چې د دې سره خبرې وکړي او هغه په دې لټون کې دی چې دې سره د خبرو بهانه تلاش کړي.

دریم بند :

مـا لـوگی لیـدلو چـې ختلـو د چوپالـه یـې
ځان مې خبر کړو په څه چل ول له دې احواله یې
دا پـه تماشـه لکـه سـپوږمۍ غلـې پریشـانه وه
زه خو د نظر په چپو ورو ورو ورتلم خوا لـه یې

×××

ښاغلی زرغـن وویـل پـه دې شعر کـې روانـي د سره نشته. مصرعه کې چټکوالی پکار دی خو دې کې سکته ده. ښـاغلي تاجک وویـل دریم بند هم د ابهام ښکار شوی. ښکاري هیڅ په سر او بر یې پوهـه نـه شوم چې دی پـه کومـه دنیا کې د چا سره خبرې کوي. ښاغلي زرغـن وویـل ورو ورو د مصـرې بنیـادي ښایسـت ښـکلا او تجمل زیـانمن کړی دی او د شعر خونـد رنـگ یې پیکه کړی او متاثره کړی دی. صدر محفل وویـل : شـاړه دشـته د ښـکلا لپـاره اسـتعمال شـوی دی دغسـې ورو ورور دا د عشـق یـو ستایل یا انداز دی والهانـه یـا عاشقانه انداز دی عاشقان خلق د خیاله ورو ورو گرځي ځکه چې اکثـر پـه تصـور کـې ډوب وي. ورو ورو وغیره د ښکلا سامانونه دي. صدر زیاتـه کړه چې ورو ورو عـامو ټولـو شـاعرانو اسـتعمال کړی دی او دا ادبي لفظ دی هغوی د نظم پـه دفاع کې وویل هم هاغسې بـه تسلسـل دا نظم راروان دی او زیاته کړه چې دلته شاعر ځان لـه دغـه د تصور مه جبینې سره د دیدن یـا خبرو اترو لارې گودرې لټولي دي او په ډېر تجسس یې دا خبره کړې ده. ښاغلي بهرم زیاته کړه چې شاعر وایي چې دغلته د مه جبینې یا (حسینې) یـو چوپـال و چـې ((د رومـانوي ښـکلا هنـداره ده)) او د دغـه چوپـال څخه لوگي خیژي نـو پـه څـه چـل هنـر زه د دې چوپـال خـوا تـه ورنـږدې کیدم او ځان مې د دې احوالـه خبرول غوښـتل خو دا لکه د سینې سپوږمۍ غلې پریشـانه وه. زه خو د دې په تماشه یم، خو چې دا پـه کومـه تماشـه غلـې ده دا د حسـن او رومانویـت هغـه باریـک بـین کیفیـات دي. چـې شـاعر پـه ډېـر شدت سره محسـوس کړې وي. ښـاغلی صـدر وویـل چې پـه دې شعر کـې د خپـل دغـه خیـال محبـوب کـړه وړه خـدوخال او د حسـن هاغـه ښکلی انداز هم ستایي چې شاعرانه استازی لري او بیا وړاندې هغه د نظر په چپو ورو ورو د دې حواله ورځي. د محبت احترام کوي ورو ورو ورتلـل د محبـت احتـرام دی دا د نظـم پـه

تصور اډانه لري او د تخیل یوه خاکه وړاندې کوي.

ځلورم بند :

دا په پټ پټونو کې سپرلو سره مشغوله وه
دا د پلوشو نه زیږیدلې سره بخمله وه
ناځاپي خو دا د چا د زړه کوځه کې ورکه شوه
دا د ځان لټون کې سرګردانه یو بلبله وه

×××

ښاغلي تاجک وویل په دې بند کې تضاد دی او دا بند ترې ګډوډ شوی دی. ښاغلي زرغون وویل د فکر په لحاظ سپرلی چې راشي هغه په خپله ځان ښایي او سپرلی د پټ پټونو څیز نه دی. ښاغلی بهرم وویل تاسو په نظم هیڅ غور نه کوئ. دې سپرلی د علامت په توګه استعمالوي. ښاغلي بهرم زیاته کړه چې دې د سپرلو سره کوم پټ پټونی کوي نو دا په تصور کې کوي او په تصور کې ناممکن ممکن وي یعنې هر څه کیدی شي او بله دا چې د شاعرۍ لپاره دا ضروري نه ده چې هر هغه څیز دې په عملي توګه هم ممکن وي. شاعران اکثر د تخیل له لوري هر څه کوي تخیل یو داسې هوایي مارغه دی چې په هر لوري الوت کولی شي. ښاغلي صدر زیاته کړه چې شاعر په دې بند کې د خپل محبوب د ښکلا لپاره شاعرانه لاپې وهلي دي او اوچتې اوچتې دعوې کړې دي، چې دا به په حقیقت کې داسې وي یا نه خو د شاعر د تخیل دعوی ضرور ده. د نمر د پلوشو نه په پټو کې سرې ورې ورې بخملۍ په یو خاص موسم کې پیدا کیږي خو هغه د لیدلو سره زیات تعلق لري. ډېر بې حسابه ښکلی وي او دی دا بخملي نوم د علامت په توګه استعمالوي، چې دا زما محبوبه دومره حسینه جمیله ده، چې د بخملۍ حسن رینښمین نازک اندامه او ګلورینه ده او ناځاپي دا ګل ورینه د هوا په څېر نازکه د چا د زړه په کوځه کې ورکه شوه. د چا لفظ د شاعرانه ښایست او ښکلا لپاره استعمال شوی دی. ښاغلي صدر محفل زیاته کړه د چا لفظ هم د ښکلا سازمان دی شاعر په دې سنګینه مسئله کې ځان یو بې طرفه راوي ګڼي او په دې رومانوي وارداتو کې ځان نه شریکوي. او وړاندې دا هم وایي چې د خپل ځان په لټون یوه نغمه ګره بلبله ده. دا هغه خبرې دي، چې په عامه توګه شاعران په استعمال کې راولي او دا شاعرانه اندازه که شاعر نیغ په نیغه خبره کوي نو دا بیا صحافتي ژبه ده نه چې شاعرانه. ښاغلي صدر محفل وویل : د طوالت له ویرې په (بلبله) یا بلبلې لفظ بحث نه کوو ځان ترې ژغورو هغوی د دې بند ستاینه وکړه.

پنځم بند :

دا په شومه دم کې بلیدله د مشال هسې
دا لکه سپوږمۍ راکوزېدله د جمال هسې
دا د حسن میره په خپل حسن کې معموره وه
دا خو د ښکلا په کالو ډکه د کمال هسې

×××

ښاغلي تاجک وويل: زه يې د الفاظو تعريف کوم. ښاغلی صدر بهرم وويل: د حسن پوره پوره ترجماني په کې شوې ده. زه داد ورکوم او دا د حسن يو بل کيفيت او نزاکت بيانوي، چې دا په توره شپه کې په شومه دم کې په خاموشه خاموشه ساعتونو کې لکه د ډيوې بليدله.

او سپوږمۍ راکوزيږي خو نه خو د ده مقصد دا دی، چې د هغې رڼا راخوريدله او دغه د جمال يا ښکلا شيندل دي. بله دا چې د سپوږمۍ هغه عکس يا سوری راکوزيږي. شاعر دغه باريکې نکتې ته گوته نيسي هاغه د تخيل په زور لکه د يو انځورگر د هغې د حسن انځورگري د هغې د ښايست تصوير د لفظونو په زور جوړهي او يو لطافت په کې راپيدا کوي او د هغه دغه شاعرانه تصوير که يو خوا د هغه د محبوب د ښکلا ثبوت دی نو بلخوا د هغه د شعوري بلوغت ننبې ننباني هم ښايي هغه خپله محبوبه په حسن کې معموره گڼي او دعوی لري چې هغه د حسن د کالو نه مالا مال ده.

شپږم بند:

دا شوه پښه نيولې منگی ترخ د گودر غاړه کې
غړ د چا تر غوږو شو د دې په دغه شاړه کې
دې په شاراوکتل او بيا په مخ روانه شوه
دومره انتظار چرته کې وي په دنگه زانړه کې

×××

ښاغلي زرغون وويل: زه حيران يم په دې نظم کې چې کومې سيغې (Tens) راروانې دي دا ټولې مونث دي، مذکره نه دي. «دومره انتظار چېرته کې وي په دنگه زاڼا کې» دا ټولې د مونث صيغې دي. مذکر نه دی ښاغلی زرغون زياته کړه. په زاڼا کې انتظار وي شاعر سره څه ثبوت دی دا خبره محاورتاً استعمال شوې ده.

صدر محفل يې په ځواب کې وويل: دا مصرعه سواليه ده؟... زرغون صيب وويل چې دا محاوره غلطه ده، ما اوريدلي دي چې کومې زاڼې راکوزې شي نو دا د ځان سره نورې زاڼې الوزوي. صدر محفل وويل دا هغه د اوبو زاڼه نه ده. دا د تخيل زاڼه ده دا د علامت په توگه استعمال شوې ده او د خپل محبوب د ښکلا ښايست لپاره د زاڼې نامه اخلي او د صحافتي ژبې نه څنگ کوي او ادبي ژبه کې خبره کوي. که ډارک نامه اخلي نو صحافتي ژبه ترې جوړيږي. اصل کې دې هم هغه تخيلاتي محبوب لپاره دغه نامه استعمالوي. لکه چې څنگه په ټول نظم کې هغه د دې فني ترکيبونو استعمال کړي دي. دا د شاعر يو خپل ذهني تاثر يا داخلي کيفيت دی، چې د گودر غاړه کې منگی په ترخ کې پښه نيولې شوه او د چا نه خپل ځان مراد اخلي خو دا «راز» پټ ساتل غواړي او هم دا فني مهارت گڼلې شي.

ښاغلي صدر زياته کړه، چې شاعر وايي، چې گڼي زما غږ يې تر غوږو شو او زما لپاره يې شا ته راوکتل. دلته د شاعر څه نا څه اميد

پیدا کیږي خو بیا ورپسې د مایوسۍ اظهار کوي او رومانوي واقعه راپیدا کوي، چې هغه بیا په کینج او ناز او ادا سره په مخه لاړه او هېڅ زما انتظار یې ونه کړو او لکه د زانې والوتله او زه په خوشې میدان لکه د هغه ښکاري پرېښوم چې لاس راغلی ښکار یې د لاسه وځي. دلته په دې کې یوه وحدت تاثر هم راپیدا شي او دغه حدثه یقیناً په زړه کې یو درد راپیدا کوي. صدر محفل زیاته کړه، چې شاعر د تصور په ټال په ډېر جمالیاتي کیفیاتو کې زانګلي دي او رنګ په رنګ خوبونه یې لیدلیدي.

آخري بند :

دا محسوسیدله د نغمې هسې پرجوشه وه
دا نشه نشه د خوده وتې څه مدهوشه وه
بیا د زړه درشل کې غزونې یې ویستلې چې
بیا نیازی ټول عمر له خاموشه شوه خاموشه وه

×××

ښاغلي زرغون وویل : ښه نظم خو ما ته یو خوب ښکاري. داد نظم د ژوند د دردونو او غمونو نه بې نیازه او آزاد و دا یې په حسن او ښکلا لیکلی دی. دا نظم معیاري دی. صدر محفل وویل : په آخیري بند کې هم هغه و د تسلسل سلسله پرله پسې راروانه ده او شاعر دا خبره مني، چې هغه د نغمې په څبر پرجوشه وه. د جذباتي او هیجاني کیفیاتو نه مالا ماله وه. د خپل حسن په سرور او خمار کې د خوده وتې وه او نشه نشه مدهوشه مدهوشه او په دغه مدهوشۍ مدهوشۍ کې دې زما د زړه په درشل کې ستوماني ویستلې او بیا د همیشه همیشه لپاره دغه غږ دغه آواز دغه نغمه خاموشه خاموشه شوه. اخیري شعر د دې خبرې مبین ثبوت دی چې هغه د همیشه لپاره خاموشه شوه یعنې دا تصور و.

چې شاید دغه تصوراتي کیفیت په شاعر بیا چرې هم کاري نه شي او دا ټول عمر لپاره دغه آواز خاموشه شو. په نظم کې زبردست ترون و. زه ستاینه کوم.

صدر محفل زیاته کړه دا نظم ملګري نیازي داستاد شاعر ښاغلي رحمت شاه سائل د یو نظم په تاثر کې لیکلی و. د سند لپاره یې ورسره لیکلي هم دي. دا په روداد کې راوستل ډېر ضروري دي. د صدر محفل له اړخه روداد د معیاري ګرځېدو نه پس دغسې په روداد تنقید ختم شو. وروسته غیر طرحي مشاعره هم وشوه. په اجلاس تنقید او مشاعره کې ښاغلیو ته سید زرغن شاه زرغن، فضل باقي تاجک، الطاف نستوال، جهانګیر بې وسه، خورشید خان، جمشید ندیم نیازی او صدر محفل سید فضل سبحان بهرم خپل کلامونه واورول.

## قطعه

د سترګو نه وه د ښو نه وه د رخساره نه وه
زما ګیله د خپله بخته وه د یاره نه وه
ما به دا ستا سترګو کې خپله چهره وکتله
په کومه ورځ به چې له ما سره هېنداره نه وه

(درویش دراني)



# د ځوان شاعر جان آغا غمخوار ځوانه شاعري

لیکوال: س، سیرت

دا د قدرت ورکړه ده چې په چا د څه پېرزوینه وکړي هغه په هر لحاظ د هوښیارانو په وینا رنګ وي یعنې د هیڅ کمښت ورسره نه وي په چا د مال دولت، په چا د اولادونو، په چا د علم او پوهې، په چا د نیکو اخلاقو او په هر چا دا پېرزوینې یو رنګ نه وي. ځوان شاعر که څه هم د یوې غریبې کورنۍ غړی دی خو لوی الله ورباندې د نیکو اخلاقو د ښکلا او ښکلي شاعرۍ پېرزوینه کړې ده. ځوان شاعر جان آغا غمخوار په عمر ځوان دی دا ښکلی ځوان او د خیالي ګل زوی او په کوهاټ روډ متنو کې یې د وړکوتیتوب خاپوړې کړې دي عمر کې یې د ۲۵ پسرلو ګلونه لیدلي دي. د غریبۍ او بې وسۍ نه یې د پنځم جماعت نه زیات تعلیم ونکړی شو خو د شاعرانو او ادیبانو سره د ناستې او د پښتنو شاعرانو د شعرونو مطالعې او الهام له برکته ورته د ستاینې وړ پوهه حاصله شوه. په دې کم عمر کې چې د ځوانۍ په جام یې تازه شونډې ایښې دي ادبي محفلونو، ادبي ننداړو او مشاعرو سره یې دومره مینه ده چې د حمید بابا ماشوخیل، کوه دامان ادبي کاروان متني، ادبي ملګري ارباب لنډۍ او نورو ادبي ټولنو کې ضرور ګډون کوي. تر ټولو غوره یې د دوستانو سره مینه کول او میلمه پالنه ده چې په پښتنو کې دا لوړ صفت یادیږي. جان آغا غمخوار تل د خپلو دوستانو او خپلوانو سره په غم او بې وسۍ کې ځان شریک ګڼي. د پښتو په دې شعر یې پوره عمل کړی دی چې:

خپل قدر که غواړې نو د بل قدر کوه
بلبله که عاشق یې نو د ګل قدر کوه

جان آغا غمخوار د ټولو دوستانو او ملګرو قدر په ورین تندي کوي په تروه تنډه چا نه دی لیدلی په لیدنه کې به دومره مینه درکړي چې سړی بیا بیا ورته ورتلو ته مجبور شي. د دنیا په سترګو کې شاعران لیوني ښکاري خو څوک چې د شاعرانو احساس او نظر ته په غور وګوري. د معاشرې سره یې همدردي ورته ښکاره شي په هر زخمي زړه یې د زړه زخمونه د قلم په ژبه بیان کړی شي بیا شاعرانو ته لیونیان نه وي او تر څه حده د عامو خلکو وینا هم په ځای ده چې شاعران د خپل ملک، خپل قام، خپلې سیمې په دردونو لیوني وي د دنیا ټول اوسیدونکي د ځان په غم کې وي د وینې احساس لرونکي شاعران د معاشرې په غم کې وي. د دې لیونتوب یوه اشاره جان آغا غمخوار په خپل غزل کې څه په دا رنګ کړې ده:

نه وایم دروغ ګلې رښتیا لیوني شوي دي
ستا هغه ساده باده اشنا لیوني شوي دي

دا داسې ليونتوب دی چې د هر چا په برخه نه وي که د دنيا خلک د دا ډول ليوني احساس په پوره غور وګوري ځان به ورته ليوني ښکاره شي. د غمخوار په وړومبي بيت کې چې کومه دعوه ښکاري هغه يې په ډېره ساده او ښکاره الفاظو کې کړې ده. د وړومبي نيم بيت معنی بې د وريښمينو جامو خپله وريښمينه ده دومره ښکلې ده چې زړه ته خپله لار کوي. په دوهم نيم بيته کې يې د پښتو په ساده ژبه ځانته ساده ويلي دي. په پښتو ادب کې چې کليوال يې په عامه اصلاح کاروي. د ټګماريو نه پاک انسان ته پښتانه ساده باده وايي معنی دا چې دا ډول انسان د چا سره هم ټګي او برګي نه کوي غمخوار چې ځانته ساده باده ويلي او اشنا ته يې په رمز کې خپل ځان د «ستا هغه اشنا» ښودلی دا يې د دې ساده الفاظو دومره رنګينه ده چې په نوررنګينو کې د دې سادګۍ رنګ او خوند نه ليدل کېږي. اوس دنيا د رنګينو نه د سادګۍ په لار روانه ده او د غمخوار اراده هم دا ډول سادګي راته ښکاري ځکه چې يو زړه د بل په زړه کې ځان ورځای کوي نو د ليونتوب د مرحلو به تيرېږي. په دې ساده باده شاعرۍ کې چې د غمخوار ليکنې ته وکتل شي هم په کې مشبه، مشبه، استعاره حقيقت او مجاز ټولو ته په خپل خپل ځای کې ترکيب ورکړی شوی دی. د ده په اشعارو کې ځنې وخت مجاز په دومره صفت ياد کړل شوي وي چې انسان يې په لوستلو سره حقيقت ته ورسوي. په اصل کې جان آغا چې د هغه په وينا د غزل د بابا خدای بخښلی امير حمزه شينواري او اروابناد ملنګ جان شاعري ورباندې ډېر اثر کړی دی خو د کليوال اثر هم ورباندې شوی دی چې که څه هم د خپلو ليکوالو للموالو شاعرانو شعرونه يې دومره نه وي لوستي خو د خپل ملک او ولس سره يې په ځنې شعرونو کې دومره درد ښودلی لوستونکي دا فکر کوي چې د نامور شاعر حبيب الرحمن بل د شعرونو اثر په کې ښکاري او په ښکاره يې لوستونکي په کې د معاشرې سره ښودل شوی درد ليدی شي. جان آغا ځوان شاعر دی د شاعرۍ په درشل يې ايښودل شوی پل هم ځوان دی، جذبه يې هم ځوانه ده او دا ټولنه ځوانو شاعرانو او ځوانو جذبو ته ضرورت لري. که ژوند ورسره ياري وکړه د شاعرانو په ډله کې به د يوه ښکلي شاعر صفت وګټي د عمر په پخېدو به يې شاعري نوره هم پخه شي. د شعر نمونه يې څۀ په دا ډول ده.

انشاء الله

## غزل

نه وايم دروغ ګلې رښتيا ليوني شوی دی
ستا هغه ساده باده اشنا ليوني شوی دی
ورشه که يې ګورې نو يقين به دې پوره وشي
مخکې خو به لړو اوس سبوا ليوني شوی دی
ای د ګلاب ګله لږ يې وپوښته چې څنګه دی
ستا د ګلورين حسن بورا ليوني شوی دی
ستا په ساه يې ساه د نظر غبږ ترې چاپېره کړه
نه پايي ژوندی درنه جدا ليوني شوی دی
مينې دې په يار باندې څه داسې کانې وکړلې
ګرځي په صحرا کې د صحرا ليوني شوی دی
يو بورا خو نه دی چې به ستا د مخ ارمان کوي
تا پسې شبنم هم د سبا ليوني شوی دی
اوس يې زنځيرونو کې بس شپه ورځې تړلی وي
تا پسې د للمې جان آغا ليوني شوی دی

# Stori

*Independent, Cultural and Literary Magazine*

5th year, 9th issue, November-December 2011



## چوکر

چې هم ډاکو وي، هم قاضي وي عدالت به څه وي؟
چې هم معشوق وي هم عاشق وي محبت به څه وي؟
چې نوکر و نیسي نوکر خلک یې بولي چوکر
چې د چوکر کوي خدمت، نو دا خدمت به څه وي؟
مال دولت نه دی چې سړی پرې خپل ژوند سمبال کړي
چې ژوند خدمت کې د دولت وي نو دولت به څه وي؟
چې غل د غله څنې غلا کاندي غلچکی نومیږي
د غلچکیانو په محفل کې صداقت به څه وي؟
چې قانون غله جوړ کړي د غلو ګټې خوندي وي پکې
د دې قانون بیا په وګړو حاکمیت به څه وي؟
منم قانون نه دی چې هر څوک د قانون تابع وي
چې عدالت قانون کې نه وي قانونیت به څه وي؟
پرون خبر شوم چې ریبار ځانته ریبار نیولی
خبر به څنګ ستوري ته راوړي حقیقت به څه وي؟

ستوري

www.kabirstori.com